# د لاویانو کتاب

## د کتاب پېژندنه

د لاویانو کتاب د تورات درېم کتاب دی. د دې کتاب نوم د لاوي د قبیلې څخه اخیستل شوی دی چې هغوی د کاهنتوب دنده په غاړه لرله.

په دې کتاب کې د عبادت او قربانۍ په اړه ډېر قوانین لیکل شوي دي چې خدای اسراییلیانو ته ورکړي دي. همدارنګه په دې کتاب کې د کفارې لویه ورځ او نور مهم مذهبي اخترونه هم بیان شوي دي. دا کتاب د مذهبي پاکوالي په هکله هم لارښوونې کوي (دا مونږ ته روښانه کوي چې کوم شیان پاک دي او کوم شیان ناپاک دي). دا کتاب داسې قوانین هم بیانوي چې په هغو کې ویل کیږي چې خلک باید په کومې طریقې سره د خدای عبادت وکړي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

او څرنګه باید په غریبانو باندې مهرباني وکړي.

د لاویانو د کتاب موضوع پاکوالی دی. کله چې د اسراییلو قوم په مصر کې د فسحې د قربانۍ او د سینا په غره باندې د لوظ په کولو سره د خدای د ځانګړي میراث په توګه بېل کړای شول، د لږې مودې په تېرېدلو سره هغوی په بت پرستۍ یعنې طلایي خوسي ته په عبادت کولو هغه لوظ مات کړ. یوازې د موسی په شفاعت سره خدای د هغوی د له منځه وړلو څخه تېر شو او د هغوی سره یې خپل لوظ نوی کړ.

د لاویانو کتاب او حتی د سپېڅلي کتاب ټوله زړه لوظنامه د حیواناتو قرباني کول د خدای په حضور کې د عبادت کولو د یوې اساسي برخې په توګه بیانوي. ګناهکارانو به د خدای حضور ته د رسېدلو په خاطر قرباني کوله. دا قرباني به د هغوی د ګناهونو د پټولو یوه وسیله ګرځېدله. قرباني به د بدل په توګه وه چې د یو ګناهکار په ځای به تر سره کېدله.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بې له شکه دې قربانیو نه شو کولای چې د ګناه ملامتي په ربښتیني ډول پاکه کړي، خو دا یوه وسیله وه چې اسراییلیانو ته به یې دا ښودل چې هغوی قربانۍ کولو ته اړتیا لري او د عیسی مسیح د قربانۍ یوه نمونه وه چې په راتلونکې کې به د ټولو دپاره قرباني کېږده.

## د موضوعګانو لست:

د نذرانو او قربانیو په اړه قوانین ۱:۱ – ۷:۳۸

د کاهنانو په توګه د هارون او د هغه د زامنو ټاکنه ۸:۱ – ۱۰:۲۰

د مذهبي پاکوالي او ناپاکۍ په اړه قوانین ۱۱:۱ – ۱۵:۳۳

د کفارې ورځ ۱۶:۱ – ۳۴

په ژوندون او عبادت کې د پاکوالي په اړه قوانین ۱۷:۱ –


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# سوځېدونکي نذرانه

۱ څښتن موسی د سپېڅلي خېمې څخه راوغوښت او ورته
ويې ويل: ۲ «اسراييليانو ته ووايه: کله چې ستاسو څخه يو
څوک څښتن ته يوه نذرانه راوړي، نو هغه دې د خپلې پادې يا
رمې څخه يو حيوان د خپلې نذرانې په توګه راوړي. ۳ که
چېرې هغه د خپلې پادې څخه يو حيوان د سوځېدونکې نذرانې
په توګه وړاندې کوي، هغه بايد يو داسې خوسی راولي چې څه
عيب په کې نه وي. هغه بايد د سپېڅلې خېمې د دروازې په خوله
کې وړاندې کړي، ترڅو څښتن هغه قبول کړي. ۴ هغه به د
حيوان په سر باندې خپل لاس کېږدي او دا به د هغه د ګناهونو د
لېرې کولو دپاره د کفارې په توګه قبول شي. ۵ هغه بايد د
څښتن په حضور کې خوسی حلال کړي او د هارون زامن به چې
د کاهنانو په توګه خدمت کوي، د هغه وينه راوړي او د قربانۍ د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځای په څلورو خواو باندې چې د سپېڅلي خېمې د دروازې په
مخکې ده، وشيندي. ۶ بيا دې د هغه حيوان پوستکی وباسي او
ټوټې ټوټې به يې کړي، ۷ او کاهنان دې د قربانۍ په ځای باندې
لرګي په ترتيب سره کېږدي او اور دې بل کړي. ۸ هغوی دې د
حيوان ټوټې شوې برخې د سر او وازګې سره په اور باندې
کېږدي. ۹ بيا دې هغه کس کولمې او پښې ووينځي او کاهن دې
هغه ټول د قربانۍ په ځای باندې وسوځوي. دا سوځېدونکې
نذرانه ده، يو داسې بوی دی چې په څښتن باندې ښه لګيږي.

۱۰ که چېرې هغه کس د خپلې رمې څخه يو حيوان وړاندې
کوي، هغه بايد نر وي او څه عيب په کې نه وي. ۱۱ هغه بايد د
څښتن په حضور کې د قربانۍ د ځای شمال خواته حلال کړي او
کاهنان به د هغه وينه د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې
وشيندي. ۱۲ وروسته له دې چې حيوان ټوټې ټوټې شي، کاهن به
دا ټولې برخې د سر او وازګې سره په اور باندې کېږدي. ۱۳ هغه
بايد کولمې او پښې ووينځي او کاهن دې دا قرباني وړاندې کړي
او هغه ټول دې د قربانۍ په ځای باندې وسوځوي. دا


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سوځېدونکې نذرانه ده، يو داسې بوی چې په څښتن باندې ښه لګيږي.

۱۴ که چيرې څوک يوه مرغۍ د سوځېدونکې نذرانې په توګه وړاندې کوي، هغه بايد يوه کوتره يا قمري وي. ۱۵ کاهن دې هغه د قربانۍ په ځای باندې وړاندې کړي، د هغې ورمېږ دې تاو کړي او سر يې د قربانۍ په ځای باندې وسوځوي. د هغې وينه دې د قربانۍ د ځای په اړخ کې وڅڅيږي. ۱۶ د هغې ججوره دې د هرڅه سره ليرې کړي او د قربانۍ د ځای لمرخاته خواته دې چې ايرې اچول کيږي، وغورځوي. ۱۷ د هغې وزرونه دې ونيسي او د هغې بدن دې په منځ کې داسې څيرې کړي چې وزرونه يې ورڅخه بېل نه شي او بيا دې هغه ټول د قربانۍ په ځای باندې وسوځوي. دا سوځېدونکې نذرانه ده، يو داسې بوی چې په څښتن باندې ښه لګيږي.

## د غلې دانې نذرانه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ کله چې ستاسو څخه څوک څښتن ته د غلې دانې نذرانه
وړاندې کوي، هغه نذرانه دې د ښو اوړو څخه وي. په هغې باندې
دې د زيتونو تېل توی کړي، قيمتي خوشبويي دې ورباندې
واچوي ٢ او د هارون زامنو يعنې کاهنانو ته دې ورووړي. کاهن
دې د ټولې قيمتي خوشبويۍ سره د ښو اوړو څخه چې تېل
ورسره ګډ دي، يو موټی راواخلي او هغه دې د يوې نمونې په
توګه چې ټوله څښتن ته وړاندې کيږي، د قربانۍ په ځای باندې
وسوځوي. دا يوه داسې نذرانه ده چې بوی يې په څښتن باندې
ښه لګيږي. ٣ د غلې دانې پاتې نذرانه د کاهنانو ده، دا د هغو
نذرانو يوه ډېره سپېځلې برخه ده چې څښتن ته په اور باندې
تياريږي.

٤ که چيرې نذرانه داسې ډوډۍ وي چې په تنور کې پخه
شوې وي، بايد فطيره وي. هغه بايد د داسې ښو اوړو څخه تياره
شوې وي چې د زيتونو تېل ورسره ګډ وي يا نرۍ ډوډۍ چې د
زيتونو په تېلو باندې غوړه شوې وي. ٥ که چيرې نذرانه داسې
ډوډۍ وي چې په تبۍ باندې پخه شوې وي، هغه دې د داسې ښو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اوړو څخه تیاره شي چې د زیتونو تېل ورسره ګډ وي، خو فطیره
دې وي. ۶ هغه ټوټې ټوټې کړئ او نور تېل ورباندې واچوئ، دا
د غلې دانې یوه نذرانه ده. ۷ که چېرې نذرانه داسې ډوډۍ وي
چې په ارکاره باندې پخه شوې وي، هغه دې د ښو اوړو او د
زیتونو د تېلو څخه جوړه شي. ۸ د دې شیانو څخه چې کومه د
غلې دانې نذرانه جوړه شوې وي، هغه څښتن ته راوړئ او کاهن
ته یې وړاندې کړئ، هغه به یې د قربانۍ ځای ته یوسي. ۹ کاهن
به د هغې څخه یوه برخه واخلي او هغه به د یوې نمونې په توګه
چې ټوله څښتن ته وړاندې کیږي، د قربانۍ په ځای باندې
وسوځوي. دا یوه داسې نذرانه ده چې بوی یې په څښتن باندې
ښه لګیږي. ۱۰ د غلې دانې پاتې نذرانه د کاهنانو ده. دا ډېره
سپېڅلې ده. دا د هغو نذرانو یوه ډېره سپېڅلې برخه ده چې
څښتن ته په اور باندې تیاریږي.

۱۱ د غلې دانې هغه نذرانې چې څښتن ته یې وړاندې کوئ،
په هېڅ یوه کې دې خمیره نه وي. تاسو باید په هغو نذرانو کې
چې څښتن ته په اور باندې تیاریږي، هېڅ خمیره یا شات ونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاروئ. ۱۲ باید د لومړنیو غلو دانو څخه چې هر کال یې ریبئ
څښتن ته یوه نذرانه راوړئ، خو هغه باید د قربانۍ په ځای باندې
ونه سوځول شي. ۱۳ د غلې دانې په هرې نذرانې باندې مالګه
واچوئ، ځکه چې مالګه د خدای او ستاسو په منځ کې د لوظ یوه
نښه ده. تاسو باید په خپلو ټولو نذرانو باندې مالګه واچوئ.

۱۴ کله چې تاسو څښتن ته د لومړنیو ریبل شویو غلو دانو
نذرانه راوړئ، نو نیني شوې دانې یا میده اوړه ورته وړاندې کړئ.
۱۵ په هغې باندې د زیتونو تېل ورزیات کړئ او قیمتي خوشبویي
وروباندې واچوئ. دا د غلې دانې یوه نذرانه ده. ۱۶ کاهن به د میده
اوړو او تېلو یوه برخه د نمونې په توګه د ټولې قیمتي خوشبویۍ
سره یوځای د یوې نذرانې په توګه وسوځوي.

## د سلامتۍ نذرانه

۱ کله چې څوک د خپلې پادې یو حیوان د سلامتۍ د نذرانې
په توګه د څښتن په حضور کې وړاندې کوي، هغه دې یو داسې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غویی یا غوا وي چې کوم عیب په کې نه وي. ۲ هغه به خپل لاس د حیوان په سر باندې کېږدي او هغه به د سپېڅلې خېمې د دروازې په خوله کې حلال کړي. بیا به د هارون زامن چې کاهنان دي، هغه وینه د قربانۍ د ځای په شلورو خواو باندې وشیندي. ۳ هغه کس دې د حیوان دغه برخې ښبنتن ته د داسې قربانۍ په توګه چې په اور باندې تیارېږي، وړاندې کړي: ټوله وازګه چې په کولمو باندې پرته وي، ۴ پښتورګې د هغې وازګې سره چې دپاسه وربانده پرته وي او د اینې ډېره ښه برخه. ۵ بیا دې کاهنان هغه ټوله د سوځېدونکې نذرانې سره د قربانۍ په ځای باندې وسوځوي. د داسې نذرانې بوی په ښبنتن باندې ښه لګېږي.

۶ که چېرې هغه کس د خپلې رمې څخه یو حیوان ښبنتن ته د سلامتۍ د نذرانې په توګه وړاندې کوي، هغه دې یو داسې ښځینه یا نر حیوان وي چې کوم عیب په کې نه وي. ۷ که چېرې هغه پسه وړاندې کوي، ۸ نو خپل لاس دې د حیوان په سر باندې کېږدي او هغه دې د خېمې په مخکې حلال کړي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کاهنان به د هغه وینه د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې
وشيندي. ۹ هغه دې د سلامتۍ د نذرانې څخه یوه داسې قرباني
راوړي چې په اور باندې ښبنتن ته تیاریږي: لکه د هغې وازګه،
ټول لم چې د ملا د هډوکي سره نژدې پرې کړل شوی وي او
ټوله وازګه چې په کولمو باندې پرته وي، ۱۰ پښتورګي د هغې
وازګي سره چې دپاسه ورباندې پرته وي او د اینې ډېره ښه برخه.
۱۱ کاهن دې هغه د خوړو د نذرانې په توګه ښبنتن ته د قربانۍ
په ځای باندې وسوځوي.

۱۲ که چېرې د هغه کس نذرانه یوه وزه وي، ۱۳ نو خپل لاس
دې د هغه حیوان په سر باندې کېږدي او د سپېڅلي خېمې په
مخکې دې حلال کړي. بیا به کاهنان د هغه وینه د قربانۍ د ځای
په څلورو خواو باندې وشيندي. ۱۴ هغه دې د خپلې نذرانې یوه
برخه چې په اور باندې ښبنتن ته تیاریږي، وړاندې کړي: ټوله
وازګه چې په کولمو باندې پرته وي، ۱۵ پښتورګي د هغې وازګې
سره چې دپاسه ورباندې پرته وي او د اینې ډېره ښه برخه. ۱۶
کاهن به دا ټول د خوړو د نذرانې په توګه چې ښبنتن ورباندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوشحالیږي د قربانۍ په ځای باندې وسوځوي. ټوله وازګه د
څښتن ده.

١٧ هېڅ اسراييلی نه شي کولای چې کومه وازګه يا وينه
وخوري. دا يو تلپاتې حکم دی چې ټول اسراييليان چې
هر چېرته اوسيږي، بايد د هغه څخه پيروي وکړي.»

## په سهوې سره د شويو ګناهونو دپاره نذرانه

١ څښتن موسی ته وويل: ٢ «اسراييليانو ته ووايه: کله چې
څوک ګناه کوي او په سهوې سره د څښتن حکمونه ماتوي، هغه
بايد دا لاندېني اصول مراعت کړي.

٣ که چېرې لوی کاهن ګناه وکړي او په دې ډول قوم
ګناهکار کړي، هغه به يو داسې خوسی وړاندې کوي چې کوم
عيب په کې نه وي او د خپلې ګناه دپاره به يې څښتن ته قرباني
کوي. ٤ هغه دې خوسی د سپېڅلې خېمې د دروازې خولې ته


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

راولي، خپل لاس دې د هغه په سر باندې کېږدي او د څښتن په
حضور کې دې هلته حلال کړي. ۵ بيا به لوی کاهن د خوسي د
وينې څخه لږه وينه واخلي او دننه خېمې ته به يې يوسي. ۶ هغه
دې خپله ګوته په وينه کې غوټه کړي او لږه وينه دې واخلي او
اووه ځلې دې د څښتن په حضور کې د سپېڅلي ځای د پردې
مخې ته وشيندي. ۷ بيا به کاهن لږه وينه په خېمه کې د
خوشبويۍ د قربانۍ د ځای په ښکرونو باندې وسولوي. هغه به
پاتې وينه د خېمې د دروازې په خوله کې د سوځېدونکې نذرانې
د قربانۍ د ځای په بېخ کې تويه کړي. ۸ هغه به د دې خوسي
څخه ټوله وازګه واخلي، يعنې هغه وازګه چې په کولمو باندې
پرته وي، ۹ پښتورګي د هغې وازګې سره چې دپاسه ورباندې
پرته وي او د اينې ډېره ښه برخه، ۱۰ لکه څنګه چې وازګه د
خوسي څخه چې د سلامتۍ د نذرانې په توګه قرباني کيږي، لېرې
کيږي. بيا به کاهن هغه سوځېدونکې نذرانې د قربانۍ په ځای
باندې وسوځوي. ۱۱ خو هغه به د هغه پوستکی، ټوله غوښه، سر،
پښې او د هغه د نس دننۍ برخې د خوشايو سره واخلي، ۱۲ هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

به ټول د کمپ څخه دباندې پاک ځای ته چېرته چې ایرې غورځول کیږي یوسي او هلته به یې د لرګیو په اور باندې وسوځوي.

۱۳ که چېرې د اسراییلو ټول قوم په سهوې سره ګناه وکړي او
د څښتن د حکمونو څخه کوم حکم مات کړي، نو هغوی به
ګناهکار وګڼل شي. ۱۴ کله چې هغوی په خپله ګناه پوه شي، باید
د ګناه د نذرانې په توګه یو خوسی راولي او د سپېڅلې خېمې په
مخکې دې هغه وړاندې کړي. ۱۵ د قوم مشران دې خپل لاسونه
د خوسي په سر باندې کېږدي او خوسی دې د څښتن په حضور
کې حلال شي. ۱۶ بیا دې لوی کاهن د خوسي د وینې څخه لږه
وینه واخلي او دننه خېمې ته دې یوسي. ۱۷ هغه دې خپله ګوته
په وینه کې غوټه کړي او هغه دې د څښتن په حضور کې اووه
ځلې د پردې مخې ته وشیندي. ۱۸ بیا دې لوی کاهن لږه وینه په
سپېڅلې خېمه کې د څښتن په حضور کې د خوشبویۍ د قربانۍ د
ځای په ښکرونو باندې وسولوي. هغه به پاتې وینه د سپېڅلې
خېمې د دروازې په خوله کې د سوځېدونکې نذرانې د قربانۍ د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځای په بېخ کې تویه کړي. ۱۹ بیا به هغه د خوسي ټوله وازګه
لېرې کړي او د قربانی په ځای باندې به یې وسوځوي. ۲۰ هغه به
د دې خوسي سره هماغسې کار وکړي لکه څنګه چې د ګناه د
نذرانې د خوسي سره یې کړی ؤ. په دې ډول به کاهن د قوم دپاره
کفاره ادا کړي او هغوی به وبخښل شي. ۲۱ بیا به هغه خوسی د
کمپ څخه دباندې یوسي او وبه یې سوځوي، لکه څنګه چې هغه
خوسی یې سوځولی ؤ چې د هغوی د ګناه دپاره وړاندې شوی ؤ.
دا هغه نذرانه ده چې د ټول قوم د ګناه د لېرې کولو دپاره ده.

۲۲ کله چې یو مشر په سهوې سره ګناه وکړي او د څښتن د
حکمونو څخه کوم حکم مات کړي، نو هغه به ګناهکار وګڼل شي.
۲۳ کله چې هغه د خپلې ګناه څخه خبر کړای شي، باید د خپلې
نذرانې په توګه یو داسې سېرلی راولي چې کوم عیب په کې نه
وي. ۲۴ هغه دې خپل لاس د سېرلي په سر باندې کېږدي او په
هغه ځای کې دې حلال کړي چې د څښتن په حضور کې د
سوځېدونکې نذرانې دپاره حیوانات حلالیږي. دا د ګناه نذرانه ده.
۲۵ بیا دې کاهن د هغه سېرلی د وینې څخه په خپله ګوته باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

لړه وینه راواخلي او د قربانۍ د ځای په ښکرونو باندې دې
وسولوي. پاتې وینه به د قربانۍ د ځای په بېخ کې تویه کړي. ۲۶
بیا دې هغه دا ټوله وازګه د قربانۍ په ځای باندې وسوځوي لکه
څنګه چې هغه د سلامتۍ د نذرانې وازګه وسوځوله. په دې ډول
به کاهن د هغه مشر د ګناه دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل
شي.

۲۷ که چېرې کوم عادي کس په سهوې سره ګناه وکړي او د
څښتن د حکمونو څخه کوم حکم مات کړي، نو هغه به ګناهکار
وګڼل شي. ۲۸ کله چې هغه د خپلې ګناه څخه خبر کړای شي،
باید د خپلې نذرانې په توګه یوه داسې وزه راولي چې کوم عیب
په کې نه وي. ۲۹ هغه دې خپل لاس د هغې په سر باندې کېږدي
او د سوځېدونکې نذرانې په ځای کې دې حلاله کړي. ۳۰ بیا دې
کاهن په خپله ګوته باندې د هغه حیوان لړه وینه راواخلي او د
قربانۍ د ځای په ښکرونو باندې دې وسولوي او پاتې وینه دې د
قربانۍ د ځای په بېخ کې تویه کړي. ۳۱ هغه به د وزې ټوله وازګه
لېرې کړي، لکه څنګه چې د سلامتۍ د نذرانې څخه لېرې کېږي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او کاهن به هغه د قربانۍ په ځای باندې وسوځوي چې بوی يې په خښتن باندې ښه لګيږي. په دې ډول به کاهن د هغه کس د ګناه دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي.

٣٢ که چېرې هغه د خپلې ګناه د نذرانې په توګه يوه مېږه راولي، هغه بايد داسې مېږه وي چې کوم عيب په کې نه وي. ٣٣ هغه دې خپل لاس د هغې په سر باندې کېږدي او د سوځېدونکې نذرانې په ځای کې دې حلاله کړي. ٣٤ بيا دې کاهن په خپله ګوته باندې د هغه حيوان لږه وينه راواخلي او د قربانۍ د ځای په ښکرونو باندې دې وسولوي او پاتې وينه دې د قربانۍ د ځای په بېخ کې تويه کړي. ٣٥ بيا به د هغې ټوله وازګه لېرې کړي، لکه څنګه چې د سلامتۍ د نذرانې د پسه يا مېږې څخه لېرې کېږي او کاهن به هغه د قربانۍ په ځای باندې د هغو نذرانو سره يوځای وسوځوي چې خښتن ته تياريږي. په دې ډول به کاهن د هغه کس د ګناه دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ګناه نذرانو ته اړتیا

١ په دې لاندېنیو حالتونو کې د ګناه نذرانې ضروري دي:

که چېرې څوک د شاهدۍ ورکولو دپاره محکمې ته وغوښتل شي او د هغو شیانو په اړه چې هغه لیدلي یا اورېدلي دي معلومات ورنه کړي، نو هغه ته دې د خپلو بدو سزا ورکړل شي.

٢ که چېرې د چا لاس په سهوې سره د یو شي سره چې په مذهبي لحاظ ناپاک وي لکه مړ شوي حیوان سره ولګیږي، نو کله چې پوه شي چې هغه څه کړي دي، نو هغه کس ناپاکه او ګناهکار دی.

٣ که چېرې څوک په سهوې سره د انساني ناپاکۍ سره که هغه هرڅه وي ولګیږي، نو څنګه چې پوه شي چې څه یې کړي دي، هغه به ګناهکار وګڼل شي.

٤ که چېرې د یو چا فکر نه وي او قسم وخوري، مهمه نه ده


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې د څه شي په هکله وي، څنګه چې ورڅخه خبر شي، نو هغه به ګناهکار وګڼل شي.

٥ کله چې څوک د دغو ګناهونو څخه یوه ګناه وکړي، هغه باید د هغې ګناه اقرار وکړي ٦ او د خپلې ګناه د جریمې په توګه باید څښتن ته د نذرانې په توګه یوه مېږه یا وزه راولي او کاهن به د هغه د ګناه دپاره کفاره ادا کړي.

٧ که چېرې هغه کس مېږه یا وزه نه شي اخیستلی، نو څښتن ته دې د خپلې ګناه د جریمې په توګه دوه کوترې یا دوه قمري ګانې راوړي یعنې یوه د ګناه د نذرانې او بله د سوځېدونکې نذرانې دپاره. ٨ هغه دې کاهن ته راوړي او کاهن به لومړی یوه د ګناه د نذرانې دپاره وړاندې کړي. هغه دې په داسې طریقې سره د هغې ورمېږ تاو کړي چې سر ورڅخه بېل نه شي. ٩ هغه دې د ګناه د نذرانې څخه لږه وینه د قربانۍ د ځای په اړخ کې وشیندي، پاتې وینه باید د قربانۍ د ځای په بېخ کې تویه شي. دا د ګناه نذرانه ده. ١٠ بیا به د مقرراتو له مخې هغه دوهمه مرغۍ د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سوځېدونکي نذرانې په توګه وړاندې کړي. په دې ډول به کاهن د هغه کس د ګناه دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي.

١١ که چېرې هغه کس دوه کوترې یا دوه قمري‌ګانې هم نه شي اخیستلی، نو د خپلې ګناه د نذرانې دپاره دې یو کیلوګرام ښه اوړه راوړي. په هغو باندې دې د زیتونو تېل یا قیمتي خوشبویي نه اچوي، ځکه چې دا د ګناه نذرانه ده. ١٢ هغه باید کاهن ته راوړي، کاهن به د هغو اوړو څخه چې ټول ښښتن ته وړاندې کېږي، یو موټی د نمونې په توګه راواخلي او د نورو نذرانو سره به یې د قربانۍ په ځای باندې وسوځوي. دا د ګناه د لېرې کولو نذرانه ده. ١٣ په دې ډول به کاهن د هغه د ګناهونو دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي. پاتې نذرانه به د غلې دانې د نذرانې په شان د کاهن وي.»

## د تاوان نذرانه

١٤ ښښتن موسی ته وویل: ١٥ «که چېرې څوک په سهوې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سره هغه شیان چې خښتن ته وقف شوي دي یا د هغو بیه کاهن
ته ورنه کړي، نو هغه دې د تاوان د نذرانې په توګه څښتن ته یو
داسې پسه راولي چې کوم عیب په کې نه وي. د هغه بیه دې د
هغو پیسو له مخې وي چې په سپېڅلي ځای کې ورڅخه کار
اخیستل کیږي. ۱۶ برسېره پردې، نوموړی باید هغه پیسې ورکړي
چې د هغو په ورکولو نه دی بریالی شوی او شل فیصده دې
زیاتې هم ورکړي. هغه به دا ټولې پیسې کاهن ته ورکوي. کاهن به
د هغه دپاره په پسه باندې د تاوان د نذرانې په توګه کفاره ادا کړي
او هغه به وبخښل شي.

۱۷ که چېرې څوک په سهوې سره ګناه وکړي او د څښتن د
حکمونو څخه کوم حکم مات کړي، نو هغه ګناهکار دی او د هغې
جرمانه به ورکوي. ۱۸ هغه دې د تاوان د نذرانې په توګه کاهن ته
یو داسې پسه راولي چې کوم عیب په کې نه وي او مناسبه بیه
ولري. په دې ډول به کاهن د هغه د ګناه دپاره چې په سهوې سره
یې کړې ده، کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي. ۱۹ دا د هغې
ګناه دپاره د تاوان یوه نذرانه ده چې د څښتن په وړاندې یې کړې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ده.»

(۱) څښتن موسی ته وویل: (۲) «فرض کړئ د کوم کس سره د بل چا کوم شی د امانت په توګه ایښی وي او هغه ورته دروغ ووايي چې هغه شی ورک شوی دی یا غلا شوی دی او په دې باندې د څښتن په وړاندې ګناه وکړي. یا فرض کړئ کوم شی غلا کړي یا يې د چا څخه په زور واخلي. (۳) یا کوم ورک شوی شی پیدا کړي او دروغ ووايي او یا قسم وخوري چې هغه يې نه دی موندلی، (۴-۵) نو په دې ډول که چېرې یو کس ګناه کوي، نو کوم شی چې هغه په غلا تر لاسه کړی وي، هغه دې بېرته ورکړي. په هغه ورځ چې دا ثابته شي چې هغه ګناهکار دی، نو د هغه خاوند ته دې پوره تاوان ورکړي او شل فیصده دې زیات هم ورکړي.

(۶) نو هغه دې یو داسې پسه چې کوم عیب په کې نه وي او د تاوان د نذرانې په توګه څښتن ته وړاندې کیږي، کاهن ته راولي. هغه دې مناسبه بیه ولري. (۷) په دې ډول به کاهن د څښتن په حضور کې د هغه دپاره کفاره ادا کړي او هغه به وبخښل شي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# سوځېدونکي نذرانه

٨ خښتن موسی ته وویل: ٩ «هارون او د هغه زامنو ته دا
حکم ورکړه چې د سوځېدونکې نذرانې دپاره دغه اصول دي:
سوځېدونکې نذرانه دې د شپې څخه تر سهاره پورې د قربانۍ په
ځای باندې پاتې شي او د قربانۍ په ځای باندې باید اور بل
وساتل شي. ١٠ بیا به کاهن خپل د کتان نېکرونه د کتان د چپنې
سره واغوندي او د سوځېدونکې نذرانې ایرې به چې د قربانۍ په
ځای باندې پاتې شوې دي، لېرې کړي او د قربانۍ د ځای په
څنګ کې به یې واچوي. ١١ بیا دې هغه دا کالي وباسي او نور
دې واغوندي او ایرې دې د کمپ څخه دباندې یو پاک ځای ته
یوسي. ١٢ د قربانۍ په ځای باندې باید اور بل وساتل شي او باید
مړ نه شي. کاهن دې هر سهار د اور لرګي ورزیاتوي او په اور
باندې دې سوځېدونکې نذرانه په ترتیب سره ږدي او په هغه
باندې دې د سلامتۍ د نذرانې وازګه وسوځوي. ١٣ د قربانۍ په
ځای باندې باید اور په دوامداره توګه بل وساتل شي او باید مړ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نه شي.

## د غلې دانې نذرانه

١۴ د غلې دانې د نذرانې دپاره دغه اصول دي: د هارون زامن
چې کاهنان دي دا نذرانه دې د قربانۍ د ځای مخې ته څښتن ته
وړاندې کړي. ١۵ کاهن دې د بنو اوړو او تېلو څخه چې قیمتي
خوشبويي ورباندې شیندل شوې ده او ټوله څښتن ته وړاندې
کيږي، يو موټی د نمونې په توګه واخلي او د قربانۍ په ځای
باندې دې وسوځوي. د دې نذرانې بوی په څښتن باندې ښه
لګيږي. ١۶-١٧ د هغې پاتې برخه به کاهنان وخوري. د هغې څخه
دې فطيره ډوډۍ پخه شي او په يو سپېڅلي ځای يعنې د سپېڅلې
خيمې په حويلۍ کې دې وخوړل شي. څښتن هغه کاهنانو ته د
هغو نذرانو څخه چې په اور باندې ورته تياريږي د هغوی د
برخې په توګه ورکړې ده. دا د ګناه او تاوان د نذرانو په شان ډېره
سپېڅلې ده. ١٨ د هارون هره اولاده چې نارينه وي هغه خوړلی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شي. دا د هغو دوامدارو نذرانو يوه برخه ده چې تل به څښتن ته
په اور باندې تيارېږي. که بل څوک هغو نذرانو ته لاس وروړي،
نو د هغو سپېڅلتوب به ورته زيان ورسوي.»

۱۹ همدارنګه څښتن موسى ته وويل: ۲۰ «دا هغه نذرانه ده
چې هارون او د هغه زامن يې بايد په هغه ورځ چې هغوى په کې
د کاهنانو په توګه ټاکل کيږي، څښتن ته وړاندې کړي: هغوى دې
يو کيلوګرام ښه اوړه د نذرانې په توګه څښتن ته وړاندې کړي (د
غلې دانې د ورځنۍ نذرانې په اندازه). د هغې څخه دې نيم په
سهار کې او نيم په ماښام کې وړاندې کړي. ۲۱ هغه دې د تېلو
سره ګډ شي او په تبۍ باندې دې پاخه شي او بيا دې ميده ميده
شي او د غلې دانې د نذرانې په توګه دې وړاندې شي. دا يو داسې
بوى دى چې په څښتن باندې ښه لګيږي. ۲۲ د هارون د اولادې
څخه چې هرڅوک د لوى کاهن په توګه خدمت کوي، تل به دا
نذرانه وړاندې کوي. هغه دې څښتن ته د قربانۍ په توګه ټول
وسوځول شي. ۲۳ د کاهن د غلې دانې هره نذرانه بايد ټوله
وسوځول شي، هغه بايد ونه خوړل شي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د ګناه نذرانه

۲۴ څښتن موسی ته وویل: ۲۵ «هارون او د هغه زامنو ته
ووایه چې د ګناه د نذرانې دپاره دغه اصول دي: د ګناه د نذرانې
دپاره دې حیوان په هغه ځای کې چې د سوځېدونکې نذرانې
دپاره حیوانات حلالیږي، حلال شي. دا ډېره سپېڅلې نذرانه ده.
۲۶ کاهن چې دا حیوان قرباني کوي، هغه دې په یو سپېڅلي ځای
یعني د سپېڅلې خېمې په حوېلۍ کې وخوري. ۲۷ که یو څوک یا
یو شی د دې حیوان د غوښې سره ولګیږي، د هغې سپېڅلتوب به
ورته زیان ورسوي. که چیرې د کالیو کوم ځای د دې حیوان په
وینه ککړ شي، هغه باید په یو سپېڅلي ځای کې ووینځل شي. ۲۸
د خاورو یو لوښی چې هغه غوښه په کې خوټول کیږي، باید
مات شي او که چیرې د برنجو د لوښي څخه کار اخیستل کیږي،
باید وموښل شي او په اوبو ووینځل شي. ۲۹ د کاهنانو د کورنیو
هر نارینه کولای شي چې دا نذرانه وخوري، هغه ډېره سپېڅلې
ده. ۳۰ خو د ګناه کومه نذرانه چې وینه یې سپېڅلې خېمې ته


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

راوړل کیږي چې په سپېڅلي ځای کې يې کفاره ادا شي، هغه نذرانه باید ونه خوړل شي، بلکې وسوځول شي.

## د تاوان نذرانه

۱ د تاوان د نذرانې دپاره چې ډېره سپېڅلې ده، دغه اصول دي: ۲ د تاوان د نذرانې دپاره دې حیوان په هغه ځای کې حلال شي چې د سوځېدونکې نذرانې دپاره حیوانات حلالیږي او د هغه وينه دې د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندل شي. ۳ د هغه ټوله وازګه دې وړاندې شي، لکه لم او هغه وازګه چې په کولمو باندې پرته ده، ۴ پښتورګي د هغې وازګې سره چې دپاسه ورباندې پرته وي او د اينې ډېره ښه برخه. ۵ کاهن به هغه ټول د قربانۍ په ځای باندې د داسې نذرانې په توګه وسوځوي چې څښتن ته تیاریږي. دا د تاوان نذرانه ده. ۶ د کاهن د کورنۍ هر نارينه کولای شي چې هغه وخوري، خو هغه باید په يو سپېڅلي ځای کې وخوړل شي، ځکه چې ډېره سپېڅلې ده.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۷ د ګناه د نذرانې او د تاوان د نذرانې دواړو دپاره یوشان قانون عملي کیږي: غوښه د کاهن ده یعنې د هغه چا دپاره ده چې د دې نذرانو په وسیله کفاره ادا کوي. ۸ د سوځېدونکې نذرانې د حیوان پوستکی د هغه کاهن دی چې قرباني وړاندې کوي. ۹ د غلې دانې هره نذرانه چې په تنور کې یا په ارکاره یا په تبی باندې پخیږي، هغه د کاهن یعنې د هغه چا ده چې هغه نذرانه خدای ته وړاندې کوي. ۱۰ خو د خامې غلې دانې ټولې نذرانې که د تېلو سره ګډې وي یا وچې وي، هغه د هارون د زامنو یعنې د ټولو کاهنانو دي او باید د هغوی ترمنځ په مساوي ډول ووېشل شي.

## د سلامتی نذرانه

۱۱ د سلامتی د هغو نذرانو دپاره چې یو کس یې څښتن ته وړاندې کوي، دغه اصول دي: ۱۲ که چېرې هغه کس دا نذرانه خدای ته د شکرانې د نذرانې په توګه وړاندې کوي، هغه به د هغه حیوان سره چې قرباني کیږي، د یوې فطیرې ډوډۍ نذرانه وړاندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کوي: هغه دې د ښو اوړو څخه درې ډوله ډوډۍ پخې کړي چې
دوه يې د زيتونو په تېلو کې پخې شوې وي او يوه دې نرۍ ډوډۍ
وي چې تېل ورباندې موښل شوي وي. ۱۳ هغه کس دې څو
خميره ډوډۍ هم وړاندې کړي. ۱۴ د هر ډول ډوډۍ څخه دې يوه
يوه ډوډۍ د يوې ځانګړې اعانې په توګه څښتن ته وړاندې کړي.
دا د هغه کاهن دپاره دي چې د حيوان وينه اخلي او د قربانۍ په
ځای باندې يې شيندي. ۱۵ د دغې سلامتۍ نذرانې د حيوان
غوښه بايد په هماغه ورځ چې هغه قرباني کيږي، وخوړل شي. د
هغې څخه دې تر بل سهاره پورې هېڅ شی پاتې نه شي.

۱۶ که چېرې يو کس د خپلې خوښې نذرانه يا د نذر ورکولو
په توګه د سلامتۍ نذرانه راوړي، نو د قربانۍ غوښه دې په هماغه
ورځ چې وړاندې کيږي، وخوړل شي. خو څه چې پاتې شي، هغه
دې په راتلونکې ورځ وخوړل شي. ۱۷ کومه غوښه چې د قربانۍ
څخه تر درېمې ورځې پورې پاتې کيږي، بايد وسوځول شي. ۱۸
که چېرې د سلامتۍ د نذرانې کومه غوښه په درېمه ورځ وخوړل
شي، خدای به د هغه کس نذرانه قبوله نه کړي. دا به د هغه په


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نذرانه کې حساب نه شي، بلکې هغه به ناپاکه وګڼل شي. که څوک
د هغې څخه لږه وخوري، نو د خپلو بدو سزا به ووینې. ۱۹ که
چېرې دا غوښه په یو ناپاکه شي باندې ولګېږي هغه باید ونه
خوړل شي، بلکې باید وسوځول شي.

که څوک پاک وي، هغه کولای شي چې دا غوښه وخوري ۲۰
خو که چېرې څوک ناپاک وي او د سلامتۍ د نذرانې هغه غوښه
چې څښتن ته وړاندې کېږي وخوري، نو هغه کس باید د خدای د
قوم څخه وشړل شي. ۲۱ که چېرې یو کس یو ناپاکه شي ته لاس
وروړي، که هغه انساني ناپاکي وي یا په مذهبي توګه یو ناپاکه
حیوان وي او بیا د سلامتۍ د نذرانې هغه غوښه وخوري، نو هغه
کس باید د خدای د قوم څخه وشړل شي.»

## د وازګې او وینې خوړل حرام دي

۲۲ څښتن موسی ته وویل: ۲۳ «د اسراییلو قوم ته ووایه چې
د غویانو، وریو او وزو وازګه مه خورئ. ۲۴ د یو حیوان وازګه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې په خپل مرګ مړ شوی وي یا یو وحشي حیوان وژلی وي،
باید په هېڅ ونه خوړل شي، خو د هغه څخه د کوم بل مقصد
دپاره کار اخیستلی شي. ۲۵ هرڅوک چې د یو داسې حیوان
وازګه وخوري چې کېدای شي د یوې نذرانې په توګه څښتن ته
په اور باندې تیاره شي، هغه باید د خدای د قوم څخه وشړل شي.
۲۶ هر چېرته چې اوسېږئ، باید د مرغۍ یا د حیوان وینه ونه
خورئ. ۲۷ هرڅوک چې دا قانون مات کړي باید د خدای د قوم
څخه وشړل شي.»

## د کاهنانو برخه

۲۸ څښتن موسی ته وویل: ۲۹ «اسراییلیانو ته ووایه چې
هرڅوک چې د سلامتۍ نذرانه وړاندې کوي، هغه دې څښتن ته د
هغې یوه برخه د ځانګړي سوغات په توګه راوړي. ۳۰ هغه دې
په خپل لاس هغه نذرانه راوړي چې څښتن ته په اور باندې
تیارېږي. هغه دې د حیوان سینه د وازګې سره یورته ونیسي،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترخو دا وښايي چې هغه ماته وقف شوي دي. ۳۱ کاهن به وازګه د قربانۍ په ځای باندې وسوځوي، خو سينه به د کاهنانو شي. ۳۲ همدارنګه تاسو بايد د خپلې سلامتۍ د نذرانې د حيوان شاتنۍ ښي پښه کاهن ته د ځانګړې اعانې په توګه ورکړئ. ۳۳ کاهن چې د سلامتۍ د نذرانې وينه او وازګه وړاندې کوي، هغه به شاتنۍ ښي پښه د خپلې برخې په توګه واخلي. ۳۴ د حيوان سينه يو ځانګړی سوغات دی او شاتنۍ ښي پښه يوه ځانګړې اعانه ده چې څښتن د اسراييلو د خلکو څخه اخيستې او کاهنانو ته يې ورکړې ده. په دې خاطر د اسراييلو خلک بايد هغه د تل دپاره کاهنانو ته ورکړي.»

۳۵ دا د هغې نذرانې برخه ده چې څښتن ته په اور باندې تيارېږي چې هارون او د هغه زامنو ته په هغه ورځ ورکړل شوه چې هغوی د کاهنانو په توګه د څښتن د خدمت دپاره وټاکل شول. ۳۶ په هغه ورځ څښتن د اسراييلو قوم ته امر وکړ چې هغوی ته د نذرانې دا برخه ورکړي. دا يو داسې قانون دی چې د اسراييلو قوم بايد د تل دپاره ورته غاړه کېږدي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۷ دا اصول د دغو نذرانو دپاره دي لکه سوځېدونکي نذراني،
د غلې داني نذرانې، د ګناه نذرانې، د تاوان نذرانې، د ټاکنې نذرانې
او د سلامتۍ نذرانې. ۳۸ په دښته کې د سينا په غره باندې څښتن
موسی ته دا حکمونه ورکړل او په هماغه ورځ موسی د اسراييلو
قوم ته وويل چې خپلې نذرانې راوړي.

## د هارون او د هغه د زامنو ټاکنه

(هجرت ۲۹: ۱ – ۳۷)

۱ څښتن موسی ته وويل: ۲ «هارون او د هغه زامن راوله.
د هغوی د کاهنتوب کالي، د مسح کولو تېل، د ګناه د نذرانې دپاره
خوسی، دوه پسونه او هغه ټوکرۍ چې فطيره ډوډۍ په کې ده،
ټول راوړه. ۳ بيا ټول قوم د سپېڅلې خېمې د دروازې خولې ته
راټول کړه.»

۴ موسی د څښتن حکم په ځای کړ او کله چې قوم راټول
شو، ۵ نو هغه ورته وويل: «اوس چې زه کوم کار کوم هغه د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ښبنتن حکم دی.»

۶ بیا موسی هارون او د هغه زامن راوستل او غسل یې ورته
ورکړ. ۷ هغه هارون ته کمیس او چپنه واغوستله، د هغه په ملا
باندې یې یوه پټۍ وتړله او سپېڅلی پېشبند یې ورباندې واچاوه او
هغه یې په هغه ښه اوبدل شوي کمربند باندې وتاړه چې د هغه د
ملا څخه تاو شوی ؤ. ۸ د هغه په سینه باندې یې سینه پوښ
وتاړه او په هغه کې یې اوریم او تمیم کېښودل. ۹ لکه څنګه چې
ښبنتن موسی ته امر کړی ؤ، هغه هارون ته لونګۍ ور په سر کړه
او د هغې په مخه کې یې د سرو زرو ګل یعنې د وقف کولو پاکه
نښه کېښودله.

۱۰ بیا موسی د مسح کولو تېل واخیستل او هغه یې په خېمه
او ټولو شیانو باندې چې په هغې کې وو، وشیندل او په دې ډول
یې هغه ټول ښبنتن ته وقف کړل. ۱۱ هغه لږ تېل واخیستل او
اووه ځلې یې د قربانۍ په ځای باندې وشیندل او د قربانۍ ځای
یې د لوښو او تشت سره چې پایه یې درلودله، مسح کړه چې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ښبنتن ته يې وقف کړي. ۱۲ همدارنګه هغه د مسح کولو لږ تېل د
هارون په سر باندې توی کړل او هغه يې د کاهنی د دندې دپاره
وقف کړ. ۱۳ بيا لکه څنګه چې ښبنتن موسی ته امر کړی ؤ، هغه
د هارون زامن مخکې راوستل او هغوی ته يې کميسونه واغوستل،
په ملاګانو باندې يې ورته پټۍګانې وتړلې او خولۍګانې يې ورته
په سر کړې.

۱۴ بيا موسی د ګناه د نذرانې دپاره خوسی راوست او هارون
او د هغه زامنو د هغه په سر باندې خپل لاسونه کېښودل. ۱۵
موسی خوسی حلال کړ او لږه وينه يې راواخيستله او هغه يې په
خپله ګوته باندې د قربانۍ د ځای په ټولو ښکرونو باندې
وسولوله، د دې دپاره چې د قربانۍ ځای سپېڅلی شي. بيا هغه
پاتې وينه د قربانۍ د ځای په بېخ کې تويه کړه. په دې ډول د
قربانۍ ځای سپېڅلی شو او هغه د ګناه په خاطر د قربانۍ د
نذرانې دپاره يو مناسب ځای شو. ۱۶ همدارنګه موسی ټوله وازګه
چې په کولمو باندې پرته وه، د اينې ډېره ښه برخه او پښتورګي
چې وازګهورباندې پرته وي، واخيستل او ټول يې د قربانۍ په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځای باندې وسوځول. ۱۷ څنګه چې څښتن حکم کړی ؤ هغه
پاتې خوسی د پوستکي، غوښې او خوشایو سره واخیست او هغه
یې د کمپ څخه دباندې وسوځاوه.

۱۸ بیا موسی د سوځېدونکې نذرانې دپاره پسه راوست او
هارون او د هغه زامنو د پسه په سر باندې خپل لاسونه کېښودل.
۱۹ موسی پسه حلال کړ او وینه یې د قربانۍ د ځای په څلورو
خواو باندې وشیندله. ۲۰ هغه پسه ټوټې ټوټې کړ او هغه یې د سر
او پاتې ټوټو او وازګې سره وسوځول. ۲۱ څنګه چې څښتن
موسی ته امر کړی ؤ، هغه د نس دننۍ برخې او پښې ووینځلې او
ټول پسه یې د قربانۍ په ځای باندې وسوځاوه. دا یوه
سوځېدونکې نذرانه وه چې بوی یې په څښتن باندې ښه ولګېده.

۲۲ بیا موسی بل پسه راوست. دا پسه د کاهنانو د ټاکنې دپاره
ؤ. هارون او د هغه زامنو خپل لاسونه د هغه په سر باندې
کېښودل. ۲۳ موسی پسه حلال کړ او د هغه لږه وینه یې واخیستله
او د هارون د ښې غوږ په نرمۍ، د ښې لاس په غټې ګوتې او د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ښي پښې په غوړو کې وسولوله. ۲۴ بيا يې د هارون زامن
مخکې راوستل او د هغوی د ښي غوږونو په نرميو، د ښي لاسونو
په غټو ګوتو او د ښي پښو په غټو ګوتو يې لږه وينه وسولوله او
پاتې وينه يې د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندله.
۲۵ هغه وازګه، لم، هغه ټوله وازګه چې په کولمو باندې پرته وي،
د اينې ډېره ښه برخه، پښتورګي د وازګې سره چې ورباندې پرته
وي او ښي ورون واخيستل. ۲۶ بيا هغه د فطيرې ډوډۍ د ټوکرۍ
څخه چې څښتن ته وقف شوې وه يوه ساده ډوډۍ، يوه غوړه
ډوډۍ او يوه نرۍ ډوډۍ راواخيستله او د وازګې او ښي ورون
دپاسه يې کېښودله. ۲۷ موسی هغه ټول د هارون او د هغه د زامنو
په لاسونو کې کېښودل او دوی هغه پورته ونيول، ترڅو دا وښايي
چې هغه څښتن ته وقف شوي دي. ۲۸ بيا موسی دا شيان د
هغوی څخه بېرته واخيستل او هغه يې د ټاکنې د نذرانې په توګه
د سوځېدونکې نذرانې سره د قربانۍ په ځای باندې وسوځول. د
داسې نذرانې بوی په څښتن باندې ښه لګېده. ۲۹ بيا موسی د پسه
سينه راواخيستله او د څښتن په حضور کې يې پورته ونيوله،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ترڅو دا وښايي چې هغه څښتن ته وقف شوې ده. دا د ټاکنې په پسه کې د موسی برخه وه. موسی دا ټول کارونه د څښتن د حکم سره سم سرته ورسول.

۳۰ موسی لږ د مسح کولو تېل او لږه وينه چې د قربانۍ په ځای باندې پرته وه واخيستل او په هارون، د هغه په زامنو او د هغو په کاليو باندې يې وشيندل. په دې ډول يې هغوی او د هغوی کالي څښتن ته وقف کړل.

۳۱ موسی هارون او د هغه زامنو ته ووېل: «لکه څنګه چې څښتن حکم کړی دی دا غوښه د سپېڅلې خېمې د دروازې په خوله کې پخه کړئ او هلته يې د هغې ډوډۍ سره چې د ټاکنې د نذرانې په ټوکرۍ کې ده، وخورئ. ۳۲ کومه غوښه يا ډوډۍ چې پاتې شي، نو هغه وسوځوئ. ۳۳ تاسو به اووه ورځې د خېمې د دروازې د خولې څخه نه ځئ، ترڅو پورې چې ستاسو د ټاکنې مراسم پوره شوي نه وي. ۳۴ مونږ چې نن کوم کار وکړ، څښتن د هغه د کولو حکم مونږ ته کړی ؤ، د دې په خاطر چې ستاسو د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ګناه دپاره کفاره ادا کړو. ۳۵ تاسو باید د سپېڅلي خېمې د دروازې په خوله کې اووه شپې او اووه ورځې پاتې شئ او هغه کار به کوئ چې څښتن یې امر کړی دی. که چېرې داسې ونه کړئ نو مړه به شئ، ځکه چې څښتن په ما باندې داسې امر کړی دی.» ۳۶ نو هارون او د هغه زامنو ټول کارونه د څښتن د هغه حکم له مخې وکړل چې د موسی په وسیله یې کړی ؤ.

## کاهنان خپل خدمت پیل کوي

۱ د کاهنانو د پاکنې د مراسمو څخه وروسته موسی په اتمه ورځ هارون او د هغه زامن او د اسراییلو مشران راوغوښتل. ۲ هغه هارون ته ووېل: «یو خوسی او یو پسه چې کوم عیب په کې نه وي، واخله او څښتن ته یې وړاندې کړه. خوسی د ګناه د نذرانې دپاره دی او پسه د سوځېدونکې نذرانې دپاره دی. ۳ بیا د اسراییلو خلکو ته ووایه: یو سېرلی د ګناه د نذرانې دپاره واخلئ. یو خوسی چې یو کلن وي او یو وری چې یو کلن وي او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هېڅ عیب په کې نه وي، د سوځېدونکې نذرانې دپاره واخلئ ۴
او یو غوېی او یو پسه د سلامتۍ د نذرانې دپاره. هغوی دې دا د
خښتن په حضور کې د غلې دانې د نذرانې سره چې تېل ورسره
ګډ وي، قربانې کړي. هغوی باید دا کار وکړي، ځکه چې خښتن
به نن هغوی ته ورښکاره شي.»

۵ نو هغوی ټول شیان د موسی د حکم سره سم د سپېڅلې
خېمې مخې ته راوړل او ټول قوم د خښتن د عبادت دپاره هلته
راټول شو. ۶ موسی وویل: «خښتن تاسو ته حکم کړی دی چې
دا کار وکړئ، ترڅو د هغه جلال تاسو ته ښکاره شي.» ۷ بیا
موسی هارون ته وویل: «د قربانۍ ځای ته لاړ شه او لکه څنګه
چې خښتن حکم کړی دی لومړی د خپل ځان او بیا د قوم د
ګناهونو د کفارې د ادا کولو په خاطر د ګناه نذرانه او سوځېدونکې
نذرانه وړاندې کړه.»

۸ نو هارون د قربانۍ ځای ته لاړ او د ځان دپاره یې د ګناه
د نذرانې په توګه خوسی حلال کړ. ۹ د هغه زامنو هغه ته وینه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

راوړله او هغه خپله ګوته په وينه کې غوټه کړه او د هغې څخه يې لږه د قربانۍ د ځای په ښکرونو باندې وسولوله. پاتې وينه يې د قربانۍ د ځای په بېخ کې توی کړه. ۱۰ لکه څنګه چې څښتن موسی ته حکم کړی ؤ، هغه د قربانۍ په ځای باندې د ګناه د نذرانې څخه وازګه، پښتورګي او د اينې ډېره ښه برخه وسوځوله. ۱۱ خو غوښه او پوستکی يې د کمپ څخه دباندې وسوځول.

۱۲ هارون هغه حيوان حلال کړ چې د هغه د خپلې سوځېدونکې نذرانې دپاره ؤ. هغه ته خپلو زامنو وينه راوړله او هغه دا وينه د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندله. ۱۳ هغوی هارون ته سر او د حيوان نورې ټوټې ورکړې او هغه يې د قربانۍ په ځای باندې وسوځول. ۱۴ هغه د نس دننی برخې او شاتنۍ پښې ووينځلې او د قربانۍ په ځای باندې يې د سوځېدونکې نذرانې دپاسه وسوځولې.

۱۵ بيا هارون هغه نذرانه راوړله چې د قوم دپاره وه. ده هغه سېرلی چې د قوم د ګناه دپاره ؤ، حلال کړ او هغه يې د ګناه د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

نذراني دپاره وړاندې کړ، لکه څنګه چې هغه د خپلې ګناه دپاره وړاندې کړی ؤ. ۱۶ همدارنګه هغه سوځېدونکې نذرانه راوړله او هغه يې د اصولو له مخې وړاندې کړه. ۱۷ بيا يې د غلې داني نذرانه وړاندې کړه، د هغې څخه يې يو موټی واخيست او هغه يې د قربانۍ په ځای باندې برسېره په هغې سوځېدونکې نذرانې چې هر سهار تيارېږي، وسوځاوه. ۱۸ هارون غويی او پسه د قوم دپاره د سلامتۍ د نذرانې په توګه حلال کړل. د هغه زامنو هغه ته وينه راوړله او هغه دا وينه د قربانۍ د ځای په څلورو خواو باندې وشيندله. ۱۹ هغوی د غويي او د پسه وازګينې برخې، لم، د وازګې پرده، پښتورګي او د اينې ډېره ښه برخه واخيستل ۲۰ او هغه يې د حيواناتو په سينو باندې کېښودل او بيا هارون وازګه د قربانۍ په ځای باندې وسوځوله. ۲۱ څنګه چې موسی امر کړی ؤ، هارون د هغو حيواناتو سينې او شاتنۍ ښي پښې څښتن ته پورته ونيولې، ترڅو دا وښايي چې هغه څښتن ته وقف شوي دي.

۲۲ کله چې هارون د قربانيو مراسم سرته ورسول، نو خپل لاسونه يې د قوم خواته پورته ونيول او برکت يې ورته ورکړ او د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

قربانۍ د ځای څخه راښکته شو. ۲۳ موسی او هارون سپېځلې
خېمې ته ورننوتل. کله چې هغوی راووتل، قوم ته یې برکت ورکړ
او د څښتن جلال ټول قوم ته ښکاره شو. ۲۴ د څښتن د حضور
څخه اور نازل شو او سوځېدونکې نذرانه او وازګینې برخې یې د
قربانۍ په ځای باندې وسوځولې. کله چې ټول قوم دا ولیدل، نو د
خوشحالۍ چیغې یې ووهلې او په سجده شول.

## د ناداب او ابیهو ګناه

۱ د هارون زامنو ناداب او ابیهو هر یو خپل د اور لوښی
راواخیست او په هغې کې یې بل شوي سکاره واچول، خوشبویي
یې ورزیاته کړه او هغه یې څښتن ته وړاندې کړل. خو دا اور
سپېڅلی نه ؤ، ځکه چې څښتن په هغوی باندې د هغه د وړاندې
کولو امر نه ؤ کړی. ۲ نو څښتن ناڅاپه اور نازل کړ او هغوی یې
په خپل حضور کې وسوځول او مړه شول. ۳ بیا موسی هارون
ته وویل: «دا هغه څه دي چې څښتن یې په هکله خبرې کولې او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه وويل:

هغه خلک چې خدمت کوي زما

باید وکړي درناوی د سپېڅلتوب زما

د ټول قوم په نظر کې به زه دروند یم

خو هارون غلی پاتې شو.»

۴ موسی میشاییل او الصافان چې د هارون او موسی د تره
عزییل زامن وو، راوغوښتل او ورته وېې ویل: «دلته راشئ، د
خپل تره د زامنو مړي د سپېڅلي ځای څخه لیرې کړئ او د کمپ
څخه دباندې یې یوسئ.» ۵ نو هغوی راغلل او څنګه چې
موسی حکم کړی ؤ، د هغوی مړي یې د کالیو څخه ونیول او د
کمپ څخه یې دباندې یووړل.

۶ بیا موسی هارون او د هغه زامنو العازار او ایتامار ته وویل:


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«خپل ويښتان ګډوډ مه پرېږدئ او خپل کالي مه شلوئ چې دا
ونښايي چې تاسو غمجن يئ. که چېرې داسې وکړئ، نو تاسو به
مړه شئ او څښتن به په ټول قوم باندې په قهر شي. خو نور ټول
اسراييليان کولای شي چې د هغو دوو کسانو دپاره چې څښتن د
اور په وسيله له منځه وړي دي، وژاړي. ٧ د خېمې د دروازې د
خولې څخه مه ځئ، که نه، نو تاسو به مړه شئ، ځکه چې تاسو د
څښتن د مسح کولو په تېلو باندې پاک شوي يئ.» نو څنګه چې
موسی ويلي وو، هغوی هماغسې وکړل.

## د کاهنانو دپاره قوانين

٨ څښتن هارون ته وويل: ٩ «ته او ستا زامن د شرابو د
څښلو نه وروسته سپېڅلې خېمې ته مه ورننوځئ، که چېرې داسې
وکړئ نو مړه به شئ. دا يو تلپاتې قانون دی چې ستاسو ټوله
اولاده به ورباندې عمل کوي. ١٠ تاسو بايد د هغو شيانو ترمنځ
چې سپېڅلي او عادي دي، فرق وکړئ او د هغو شيانو ترمنځ چې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کوم پاک دي او کوم ناپاک. ۱۱ باید د اسراییلو قوم ته هغه ټول قوانین ورزده کړئ چې ما تاسو ته د موسی په وسیله درکړي دي.»

۱۲ بیا موسی هارون او د هغه پاتې زامنو العازار او ایتامار ته وویل: «د غلې دانې هغه نذرانه چې څښتن ته په اور باندې د تیارېدونکو نذرانو څخه پاتې شوې ده واخلئ، د هغې څخه فطیره ډوډۍ پخه کړئ او د قربانۍ د ځای په څنګ کې یې وخورئ، ځکه چې دا نذرانه ډېره سپېڅلې ده. ۱۳ هغه په یو سپېڅلي ځای کې وخورئ، ځکه چې دا ستا او ستا د زامنو د هغو نذرانو برخه ده چې څښتن ته په اور باندې تیارېږي. دا هغه څه دي چې څښتن یې ماته امر کړی دی. ۱۴ خو سینه او شاتنۍ پښه چې پورته نیول کېږي، هغه دې په داسې ځای کې چې په مذهبي لحاظ پاک وي، وخوړل شي. دا برخه تاسو، ستاسو زامنو او لورګانو ته ستاسو د برخې په توګه د سلامتۍ د هغو نذرانو څخه چې د اسراییلو د خلکو له خوا وړاندې کېږي، درکول کېږي. ۱۵ شاتنۍ پښه او سینه باید د هغو نذرانو د وازګې سره چې په اور


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

باندې تیارېږي، څښتن ته پورته ونیول شي. بیا لکه څنګه چې
څښتن حکم کړی دی، هغه به د تل دپاره ستاسو او ستاسو د
اولادې برخه وي.»

۱۶ موسی د هغه سېرلي په اړه پوښتنه وکړه چې د ګناه د
نذرانې دپاره ؤ او خبر شو چې هغه سوځول شوی دی. په دې
خبره هغه په العازار او ایتامار باندې په قهر شو او پوښتنه یې
وکړه: ۱۷ «تاسو ولې د ګناه نذرانه په یو سپېڅلي ځای کې ونه
خوړله؟ هغه ډېره سپېڅلې ده او څښتن د دې دپاره تاسو ته
درکړې وه چې د کفارې په ادا کولو سره د قوم څخه ګناه لېرې
شي. ۱۸ په دې خاطر چې د هغه وینه سپېڅلي خېمې ته نه وه
وړل شوې، نو تاسو باید د سېرلي غوښه هلته خوړلې وای، لکه
څنګه چې ما درته امر کړی ؤ.»

۱۹ هارون په ځواب کې وویل: «که چېرې ما د ګناه نذرانه نن
خوړلې وای، ایا څښتن به هغه قبوله کړې وای؟ قوم خپله د ګناه
نذرانه نن څښتن ته وړاندې کړه او خپله سوځېدونکې نذرانه یې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوړله، خو بیاهم په ما باندې دا هیبتناکه پېښې وشوې.» ۲۰ کله
چې موسی دا خبرې واورېدلې، هغه قانع شو.

## حلال او حرام حیوانات

(تثنیه ۱۴: ۳ – ۲۱)

۱ څښتن موسی او هارون ته وویل: ۲ «اسراییلیانو ته
ووایئ چې د ټولو حیواناتو له جملې څخه چې په ځمکه باندې
ژوند کوي، یعني هغه حیوانات چې غوښه یې خوړلی شئ، هغه دا
دي: ۳ هر حیوان چې خلاص سوم ولري او شخوند وهونکی هم
وي. ۴ خو داسې حیوانات شته چې یوازې شخوند وهونکي دي
یا یوازې خلاص سوم لري، خو تاسو باید د هغو غوښه ونه
خورئ. لکه اوښ، که څه هم هغه شخوند وهونکی دی، خو
خلاص سوم نه لري. دا ستاسو دپاره ناپاک دی. ۵ غرنی سویه،
که څه هم هغه شخوند وهونکې ده خو خلاص سوم نه لري، دا
ستاسو دپاره ناپاکه ده. ۶ سویه که څه هم شخوند وهونکې ده،


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خو خلاص سوم نه لري. دا ستاسو دپاره ناپاکه ده. ۷ د خوګ
غوښه مه خورئ. هغه باید ناپاک وګڼل شي. هغه خلاص سومان
لري، خو شخوند وهونکی نه دی. ۸ تاسو باید د دې حیواناتو
غوښه ونه خورئ او مه د هغو مړو ته لاس وروړئ، دا ستاسو
دپاره ناپاک دي.

۹ تاسو کولای شئ هر ډول ماهیان چې وزرونه او پترې
ولري وخورئ، ۱۰ خو هر حیوان چې په اوبو کې ژوند کوي او
وزرونه او پترې نه لري، باید غوښه يې ونه خوړل شي. ۱۱ داسې
حیوانات باید حرام وګڼل شي. تاسو باید د هغو غوښه ونه خورئ
او حتی مړو ته يې لاس هم مه وروړئ. ۱۲ هر شی چې په اوبو
کې ژوند کوي او وزرونه او پترې ونه لري، باید ونه خورئ.

۱۳–۱۹ دا هغه مرغان دي چې تاسو يې باید حرام وګڼئ: عقاب
او ډول ډول ټپوسان، هر ډول بانبې، هر ډول کارغان، شترمرغ،
ډول ډول کونګیان، د بحیرې مرغان، لګ لګ، هر ډول ماهي
خوړونکي مرغان، ملاچرګک او شوپرک.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۲۰ ټول وزر لرونکي حشرات حرام دي، ۲۱ بې له هغو حشراتو څخه چې ټوپونه وهي. ۲۲ د هغو څخه کولای شئ چې ډول ډول چورچورکۍ او ملخان وخورئ. ۲۳ خو نور ټول وزر لرونکي حشرات چې په پښو باندې هم ګرځي، باید حرام وګڼل شي.

۲۴–۲۸ هرڅوک چې د دغو حیواناتو مړو ته لاس وروړي، هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي: ټول سوم لرونکي حیوانات، پرته له هغو چې سومان یې هم بېل وي او شخوند هم وهي او ټول حیوانات چې څلور پښې ولري او پنجې ولري. هرڅوک چې د هغو مړي یوسي، باید هغه خپل کالي ووینځي، خو تر ماښامه پورې به ناپاک وي.

۲۹ د هغو حیواناتو څخه چې په ځمکه باندې ګرځي، دغه حیوانات ستاسو دپاره ناپاک دي: ږنده مږه، موږک، هر ډول سمساره، ۳۰ ډول ډول د کور او د شګې چرمښکۍ او کربوړې.
۳۱ هرڅوک چې د هغو مړو ته لاس وروړي، هغه به تر ماښامه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پورې ناپاک وي. ۳۲ که چېرې د هغو مړي په یو شي باندې ولوېږي، هغه شی به ناپاک شي. همداسې کار به د لرګي، ټوکر، څرمنې، یا بوجۍ په موادو باندې کیږي او مهمه نه ده چې هغه د څه شي دپاره کارول کیږي. هغه دې په اوبو کې غوټه کړای شي، خو تر ماښامه پورې به ناپاک پاتې شي. ۳۳ که چېرې د هغو مړي د ختې په یو لوښي کې وغورځیږي، هرڅه چې په هغه کې دي ناپاک به شي او تاسو باید هغه لوښی مات کړئ. ۳۴ کوم خواړه چې په عادي توګه حلال وي، خو که د داسې لوښي څخه په هغو خوړو باندې اوبه توی شي، هغه به ناپاک شي او د څښلو هرڅه چې په دې لوښي کې وي، هغه ناپاک دي. ۳۵ په هر شي باندې چې د هغو مړي ولوېږي هغه شی ناپاکه کیږي، که په هغو کې نغری یا د پخلي لوښی شامل وي، هغه باید مات شي. ۳۶ خو یوه چینه یا څاه چې دغه مړه حیوانات په کې پراته وي، هغه پاک پاتې کیږي. خو هرڅوک چې د دغو مړو له جملې څخه کوم یو ته لاس وروړي، هغه به ناپاک شي. ۳۷ که چېرې یو داسې مړی په هغو تخمونو باندې وغورځیږي چې کرل کیږي، هغه تخمونه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پاک پاتې کېږي. ۳۸ خو که چېرې په تخمونو باندې اوبه توی شوې وي او په هغه باندې یو داسې مړی ولوېږي، نو هغه ستاسو دپاره ناپاک دي.

۳۹ که چېرې یو حیوان چې ستاسو دپاره پاک وي مړ شي، هرڅوک چې د هغه مړي ته لاس وروړي هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي. ۴۰ هرڅوک چې د دې مړ حیوان د غوښې څخه لږه غوښه وخوري، باید خپل کالي ووینځي، خو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي. هرڅوک چې د هغه مړی راپورته کړي، هغه باید خپل کالي ووینځي، خو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي.

۴۱ هره خزنده چې په ځمکه باندې ګرځي، باید ونه خوړل شي. ۴۲ ستاسو دپاره هره خزنده حرامه ده، که هغه په سینه باندې ښوییږي یا په څلورو یا په ډېرو پښو ګرځي. ۴۳ د هغو څخه د کوم یو په خوړلو سره خپل ځانونه مه ناپاکه کوئ. ۴۴ زه ستاسو څښتن خدای یم، تاسو باید خپل ځانونه پاک کړئ او


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سپېڅلي اوسئ، ځکه چې زه سپېڅلی یم. خپل ځانونه په هېڅ یوې خزندې باندې مه ناپاکه کوئ. ۴۵ زه څښتن یم چې تاسو مې د مصر څخه راوویستلئ، ترڅو ستاسو خدای اوسم. له دې امله تاسو باید سپېڅلي اوسئ، ځکه چې زه سپېڅلی یم.

۴۶ دا قوانین د حیواناتو، مرغانو او هرڅه چې په اوبو کې ژوند کوي او ټولو خزندو په اړه دي. ۴۷ تاسو باید پام وکړئ چې د پاک او ناپاک او همدارنګه د حلالو او حرامو حیواناتو ترمنځ فرق وکړئ.»

# د اولاد د زیږولو څخه وروسته د ښځو پاکوالی

۱ څښتن موسی ته وویل: ۲ «اسراییلیانو ته ووایه چې کله یوه ښځه امیدواره شي او زوی وزیږوي، هغه به اووه ورځې د خپلې میاشتینۍ ناروغۍ په شان ناپاکه وي. ۳ په اتمه ورځ دې هلک سنت شي. ۴ بیا باید هغه ښځه د وینې د بهېدلو څخه د پاکېدلو دپاره درې دېرش ورځې صبر وکړي. هغه باید هېڅ یو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

پاک شي ته لاس ورنه وړي او نه دې د پاکېدلو د ورځو د پوره کېدلو پورې سپېڅلې خېمې ته ورننوځي.

٥ که چېرې هغه لور وزېږوي، دا ښځه به څوارلس ورځې ناپاکه وي، لکه څنګه چې د میاشتینی ناروغی په دوران کې ناپاکه کېږي. بیا باید هغه ښځه د وینې د بهېدلو څخه د پاکېدلو دپاره شپېږشپېته ورځې صبر وکړي. ٦ کله چې د یو زوی یا د یوې لور د زېږولو دپاره د پاکېدلو ورځې خلاصې شي، هغه دې د سپېڅلې خېمې د دروازې په خوله کې کاهن ته ورشي. هغه دې یو وری چې یو کلن وي د سوځېدونکې نذرانې دپاره او یوه قمري یا یوه کوتره د ګناه د نذرانې دپاره راوړي. ٧ کاهن به د هغې دپاره د کفارې د ادا کولو په خاطر هغه د څښتن په حضور کې وړاندې کړي او هغه ښځه به د وینې د بهېدلو څخه پاکه شي. دا اصول د هغې ښځې دپاره دي چې یو هلک یا یوه انجلۍ وزېږوي. ٨ که چېرې دا ښځه یو وری نه شي اخیستلی، نو دوه کوترې یا دوه قمرۍګانې دې راوړي، یوه د سوځېدونکې نذرانې دپاره او بله د ګناه د نذرانې دپاره او کاهن به د هغې د ناپاکۍ د لېرې کولو دپاره


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کفاره ادا کړي او هغه به پاکه شي.»

## د پوستکي د ناروغيو په اړه قوانين

١ څښتن موسی او هارون ته وويل: ٢ «کله چې د چا په
پوستکي باندې زخم، دانه يا داغ وي چې کېدای شي هغه د
پوستکي په يوې ساري ناروغۍ باندې بدله شي، هغه بايد هارون
کاهن يا د هغه يو زوی ته چې کاهن وي راوستل شي. ٣ کاهن
دې د هغه زخم معاينه کړي او که چېرې په هغه کې ويښتان سپين
شوي وو او زخم د پوستکي څخه ژور ښکاره کېده، نو دا د
پوستکي ساري ناروغي ده. نو کاهن به هغه کس ناپاک اعلان
کړي. ٤ که چېرې د هغه د پوستکي زخم سپين ؤ، خو د
پوستکي څخه ژور نه ښکاره کېده او ويښتان په کې سپين شوي
نه وو، کاهن دې هغه ناروغه کس د اوو ورځو دپاره د نورو څخه
بېل وساتي. ٥ کاهن به په اوومه ورځ هغه بيا معاينه کړي او که
چېرې د هغه په نظر کې زخم هماغه شان ښکاره کېده او خپور


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شوی نه ؤ، کاهن به هغه د نورو اوو ورځو دپاره بېل وساتي. ۶
په اوومه ورځ دې کاهن هغه د دوهم ځل دپاره معاينه کړي. که
چېرې زخم مړاوی شوی ؤ او په پوستکي کې نه ؤ خپور شوی،
کاهن به هغه پاک اعلان کړي، دا يوازې يوه ګرمکه ده. هغه کس
بايد خپل کالي ووينځي او هغه به پاک شي. ۷ خو که چېرې
کاهن هغه کس معاينه کړی وي او هغه يې پاک اعلان کړی وي او
له هغې څخه وروسته ګرمکه د هغه په بدن باندې خپره شي، هغه
بايد خپل ځان بيا کاهن ته ورښکاره کړي. ۸ کاهن دې هغه
معاينه کړي، که چېرې هغه ګرمکه په بدن باندې خپره شوې وه،
کاهن به هغه ناپاک اعلان کړي، دا يوه ساري ناروغي ده.

۹ کله چې يو کس د پوستکي ساري ناروغي ولري، هغه بايد
کاهن ته راوستل شي. ۱۰ کاهن دې هغه معاينه کړي، که چېرې په
پوستکي کې يو سپين زخم وي چې ويښتان يې سپين کړي وي او
که چېرې په زخم کې خامه غوښه وي، ۱۱ نو دا د پوستکي يوه
دوامداره ناروغي ده او کاهن به هغه ناپاک اعلان کړي. کاهن دې
هغه د معاينې دپاره بېل ونه ساتي، ځکه چې هغه په ښکاره ناپاک


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دی. ۱۲-۱۳ خو که چېرې د ناروغۍ موده تېره شوې وي او يوازې
داغونه پاتې وي، کاهن به هغه کس پاک اعلان کړي. ۱۴ خو
هرکله چې په هغه باندې خامه غوښه راښکاره شي، هغه به ناپاک
شي. ۱۵ کله چې کاهن دا خامه غوښه ووينې، هغه کس به ناپاک
اعلان کړي. خامه غوښه ناپاکه ده، هغه کس په ساري ناروغۍ
اخته دی. ۱۶ خو کله چې دا خامه غوښه روغه شي او بيا سپينه
شي، هغه کس بايد کاهن ته ورشي. ۱۷ کاهن دې هغه معاينه
کړي، که چېرې د زخم ښخه يوازې سپين داغونه پاتې وي کاهن
به هغه ناروغه کس پاک اعلان کړي، بيا به هغه پاک شي.

۱۸ کله چې د يو چا په پوستکي باندې يوه دانه وي او روغه
شي ۱۹ او په هغه ځای باندې چې دانه وه، يو زخم يا سوربخن
سپين داغ راښکاره شي، هغه بايد ځپل ځان کاهن ته ورښکاره
کړي. ۲۰ کاهن دې هغه معاينه کړي، که چېرې هغه د پوستکي
ښخه ژور وي او ويښتان په کې سپين شوي وي، کاهن به هغه
ناپاک اعلان کړي. دا د پوستکي يوه ساري ناروغي ده چې د
دانې په ځای منځ ته راغلې ده. ۲۱ خو که چېرې کاهن هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

معاینه کړي او سپین ویښتان په کې نه وي او د پوستکي څخه
ژور نه وي او مړاوی شوی وي، بیا دې کاهن هغه کس د اوو
ورځو دپاره بېل وساتي. ۲۲ که چېرې هغه زخم په پوستکي کې
خپرېږي، کاهن به هغه کس ناپاک اعلان کړي، دا ساري ناروغي
ده. ۲۳ خو که چېرې هغه بدل شوی او خپور شوی نه وي، دا
یوازې د دانې داغ دی او کاهن به هغه کس پاک اعلان کړي.

۲۴ کله چې د یو چا پوستکی سوځېدلی وي او د سوځېدلي
ځای په خامه غوښه کې یو سوربخن سپین یا سپین داغ راښکاره
شي، ۲۵ نو کاهن دې هغه داغ معاینه کړي. که چېرې په هغه کې
ویښتان سپین شوي وو او د پوستکي څخه ژور ښکاره کېده، دا د
پوستکي یوه ساري ناروغي ده چې په هغه سوځېدلي ځای کې
پیل شوې ده. کاهن به هغه کس ناپاک اعلان کړي. ۲۶ خو که
چېرې کاهن هغه معاینه کړي او په داغ کې سپین ویښتان نه وي
او هغه د پوستکي څخه ژور نه وي او مړاوی شوی وي، بیا دې
کاهن هغه کس د اوو ورځو دپاره بېل وساتي. ۲۷ په اوومه ورځ
دې کاهن هغه معاینه کړي. که چېرې هغه خپرېږي، کاهن به هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کس ناپاک اعلان کړي، دا د پوستکي یوه ساري ناروغي ده. ۲۸
خو که چېرې بیاهم زخم بدل شوی نه وي او خپور شوی نه
وي، خو مړاوی شوی وي، نو دا د سوځېدلي ځای پړسوب دی او
کاهن به هغه کس پاک اعلان کړي. دا یوازې د سوځېدلي ځای
داغ دی.

۲۹ که چېرې د یو سړي یا د یوې ښځې په سر یا په زنه
باندې زخم وي، ۳۰ نو کاهن دې هغه زخم معاینه کړي. که چېرې
هغه د پوستکي څخه ژور ښکاري او زیړ نري ویښتان په کې وي،
نو کاهن به هغه کس ناپاک اعلان کړي. دا یو خارښت دی او د
سر یا د زنې ساري ناروغي ده. ۳۱ خو کله چې کاهن د ناسور دا
ډول زخم معاینه کړي، که چېرې هغه د پوستکي څخه ژور نه
ښکاره کېده، خو بیاهم تور ویښتان په کې نه وو، نو کاهن دې هغه
ناروغه کس اووه ورځې بېل وساتي. ۳۲ په اوومه ورځ دې کاهن
هغه زخم معاینه کړي. که چېرې خارښت خپور شوی نه ؤ او زیړ
ویښتان په کې نه وو او د پوستکي څخه ژور نه ښکاره کېده، ۳۳
نو د هغه کس ټول سر باید وخرایل شي پرته له زخمي ځای


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښخه. کاهن دې هغه نورې اووه ورځې بېل وساتي. ۳۴ په اوومه
ورځ دې کاهن هغه خارښت بیا معاینه کړي، که چېرې هغه په
پوستکي کې خپور شوی نه ؤ او د پوستکي ښخه ژور نه ښکاره
کېده، کاهن به هغه پاک اعلان کړي. هغه کس باید خپل کالي
ووینځي او پاک به شي. ۳۵ خو که چېرې د هغه د پاکوالي د
اعلان ښخه وروسته خارښت خپور شي، ۳۶ کاهن دې هغه معاینه
کړي او که چېرې خارښت په پوستکي کې خپور شوی وي، کاهن
دا اړتیا نه لري چې زیړ ویښتان ولټوي، هغه کس ناپاک دی. ۳۷
خو که چېرې د هغه په نظر کې هغه بدل شوی نه وي او تور
ویښتان په کې راشنه شوي وي، دا خارښت روغ شوی دی. هغه
کس پاک دی او کاهن به هغه همداسې پاک اعلان کړي.

۳۸ کله چې د یو سړي یا د یوې ښځې په پوستکي باندې
سپین داغونه وي، ۳۹ نو کاهن دې هغه کس معاینه کړي. که
چېرې دا داغونه مړاوي او سپین وي، هغه یوه بې زیانه ګرمکه ده
چې په بدن باندې راختلې ده، هغه کس پاک دی.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۴۰ که چېرې يو سړي خپل ويښتان له لاسه ورکړي وي او ګنجی شوی وي، هغه پاک دی. ۴۱ که چېرې هغه د خپلې کوپړۍ يا تندي ويښتان له لاسه ورکړي وي او لوڅ تندی ولري، هغه پاک دی. ۴۲ خو که چېرې د هغه په ګنجي سر يا لوڅ تندي باندې سوربخن سپين زخم وي، دا د پوستکي يوه ساري ناروغي ده. ۴۳ کاهن دې هغه معاينه کړي او که چېرې زخم سوربخن سپين وي، ۴۴ نو هغه سړی ناروغ او ناپاک دی. کاهن به هغه ناپاک اعلان کړي، ځکه چې د هغه په سر باندې زخم دی.

۴۵ هغه کس چې په داسې ساري ناروغۍ اخته وي بايد شلېدلي کالي واغوندي، خپل ويښتان دې ببر پرېږدي، خپله خوله دې پټه کړي او داسې چيغې دې ووهي: زه ناپاک يم! زه ناپاک يم! ۴۶ ترڅو پورې چې هغه کس په دې ناروغۍ باندې اخته وي هغه ناپاک پاتې کيږي. هغه بايد يوازې او د کمپ څخه دباندې واوسيږي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د چنګاسکې په هکله قوانين

۴۷ که چېرې کوم کالي چنګاسکې وهلي وي، که هغه د وړيو
ښخه جوړ شوي وي يا د کتان کالي وي، ۴۸ د کتان يا وړيو
ټوکر، يا څرمن او يا داسې شی وي چې د څرمنې څخه جوړ
شوی وي، ۴۹ که چېرې هغه چنګاسکه شنه بخنه يا سره بخنه وي،
نو دا يوه خپرېدونکې چنګاسکه ده او کاهن ته بايد وروښودل شي.
۵۰ کاهن دې هغه چنګاسکه معاينه کړي او هغه شی دې اووه
ورځې بېل کېږدي. ۵۱ په اوومه ورځ دې هغه بيا معاينه کړي. که
چېرې چنګاسکه خپره شوې وه، نو هغه شی ناپاک دی. ۵۲ کاهن
بايد هغه کالي وسوځوي، ځکه چې چنګاسکه خرابوونکې ده او
هغه دې وسوځول شي.

۵۳ خو کله چې کاهن هغه معاينه کړي او دا معلومه کړي چې
چنګاسکه په هغه شي باندې نه ده خپره شوې، ۵۴ هغه به دا حکم
وکړي چې دا خراب شوی شی ووينځل شي. بيا دې هغه د نورو
اوو ورځو دپاره بېل کېږدي. ۵۵ وروسته له دې چې خراب شوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شی ووينځل شي، کاهن دې هغه بيا معاينه کړي. که چېرې
چڼاسکې خپل رنګ نه وي بدل کړی، که څه هم هغه خپره شوې
نه ده، بياهم هغه ناپاک دی. که دا خرابوالی په مخکې وي يا
شاته، تاسو بايد دا شی وسوځوئ. ۵۶ خو کله چې کاهن هغه
معاينه کړي، که چېرې د هغه شي د وينځلو څخه وروسته
چڼاسکه مړاوې شوې وي، هغه دې خرابه شوې برخه وشلوي.
۵۷ خو که چېرې چڼاسکه په پورتنيو شيانو باندې بيا راښکاره
شي، نو دا خپرېدونکې ده او په هرڅه باندې چې چڼاسکه وي، نو
خاوند يې بايد هغه شی وسوځوي. ۵۸ که چېرې هغه کس هغه
شی ووينځي او چڼاسکه ورکه شي هغه دې بيا ووينځل شي، نو
هغه شی به پاک شي.

۵۹ دا قوانين د هغو کاليو په هکله دي چې چڼاسکې وهلي
وي، که هغه د وړيو يا کتان څخه جوړ شوي وي، د وړيو يا کتان
ټوکر وي يا هغه شيان وي چې د څرمنې څخه جوړ شوي وي. نو
په دې ډول به کاهن کولای شي دا پرېکړه وکړي چې ايا دا شيان
پاک دي يا ناپاک.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د پوستکي د ناروغیو څخه پاکوالی

١ څښتن موسی ته وویل: ٢ «دا قوانین د هغه کس د پاکېدلو په اړه دي چې د پوستکي د ساري ناروغی څخه روغ شوی وي. په هغه ورځ چې د هغه پاکوالی اعلانیږي، باید هغه کاهن ته راوستل شي. ٣ کاهن دې د کمپ څخه دباندې لاړ شي او هغه دې معاینه کړي. که چېرې هغه کس د پوستکي د ساري ناروغی څخه روغ شوی وي، ٤ کاهن به داسې حکم وکړي چې دوه ژوندۍ پاکې مرغۍ، د سبر لړ لرګي، سور تار او د وېلني بوټی دې د پاکوالي د مراسمو دپاره راوړل شي. ٥ بیا به کاهن داسې حکم وکړي چې د دې مرغیو څخه دې یوه د ختو د لوښي دپاسه چې د چینې تازه اوبه په کې وي، حلاله شي. ٦ هغه دې بله ژوندۍ مرغۍ د سبر د لرګي، سور تار او د وېلني د بوټي سره واخلي او د هغې مرغۍ په وینه کې دې غوټه کړي چې د تازه اوبو دپاسه حلاله شوې وي. ٧ کاهن به اووه ځلې په هغه کس باندې چې د ساري ناروغۍ څخه پاکیږي، هغه وینه وشیندي او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه به پاک اعلان کړي. بیا دې هغه ژوندی مرغۍ په صحرا کې خوشې کړي. ۸ کوم کس چې پاکیږي، هغه باید خپل کالي ووینځي، خپل ټول ویښتان دې وخرايي او غسل دې وکړي، بیا به هغه پاک شي. له دې وروسته هغه کولای شي چې کمپ ته ورننوځي، خو اووه ورځې باید د خپلې خېمې څخه دباندې واوسیږي. ۹ هغه باید په اوومه ورځ بیا خپل سر، ږیره، وروځې او د بدن پاتې ویښتان وخرايي. خپل کالي دې ووینځي او غسل دې وکړي، نو هغه به پاک شي.

۱۰ هغه باید په اتمه ورځ دغه شیان راوړي: دوه ورې او یوه یو کلنه مېږه چې هېڅ عیب په کې نه وي، د غلې دانې د نذرانې دپاره درې کیلوګرامه ښه اوړه چې د زیتونو تېل ورسره ګډ وي او یوه پیاله د زیتونو تېل. ۱۱ کاهن باید هغه کس چې پاکیږي، د دې نذرانو سره د سپېڅلې خېمې د دروازې په خوله کې د څښتن حضور ته ورولي. ۱۲ بیا به کاهن یو وری د یوې پیالې تېلو سره واخلي او هغه به د تاوان د نذرانې په توګه وړاندې کړي. کاهن به هغه پورته ونیسي، ترڅو دا وښايي چې هغه څښتن ته وقف شوي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دي. ۱۳ هغه دې ورى په هغه سپېڅلي ځاى کې حلال کړي چې
د ګناه د نذرانو او سوځېدونکو نذرانو دپاره حيوانات حلالېږي.
هغه بايد داسې وکړي، ځکه چې د تاوان نذرانه د ګناه د نذرانې په
شان د کاهن ده او هغه ډېره سپېڅلې ده. ۱۴ کاهن دې د وري د
وينې څخه لږه وينه واخلي او د هغه کس چې پاکېږي، د هغه د
ښي غوږ په نرمۍ، د ښي لاس په غټې ګوتې او د ښي پښې په
غټې ګوتې دې وسولوي. ۱۵ بيا به کاهن لږ تېل راواخلي او د
خپل چپ لاس په ورغوي کې به يې توى کړي، ۱۶ خپله ښي
ګوته به په خپل ورغوي کې غوټه کړي او لږ تېل به په خپلې
ګوتې سره د ښتن په حضور کې اووه ځلې وشيندي. ۱۷ کاهن
دې لږ تېل چې د هغه د لاس په ورغوي کې پاتې دي، راواخلي
او د هغه کس چې پاکېږي د هغه د ښي غوږ په نرمۍ، د ښي لاس
په غټې ګوتې او د ښي پښې په غټې ګوتې وسولوي. ۱۸ کاهن به
پاتې تېل چې د هغه په ورغوي کې دي، د هغه چا په سر باندې
توى کړي چې پاکېږي او د هغه دپاره به د ښتن په حضور کې
کفاره ادا کړي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۹ بیا دې کاهن د ګناه نذرانه قرباني کړي او د هغه چا دپاره
دې کفاره ادا کړي چې د خپلې ناپاکۍ څخه پاکیږي. له هغې
وروسته به د سوځېدونکې نذرانې دپاره حیوان حلال کړي ۲۰ او
د غلې دانې د نذرانې سره به یې د قربانۍ په ځای باندې وړاندې
کړي. په دې ډول به د هغه کس دپاره کفاره ادا کړي او هغه به
پاک شي.

۲۱ که چېرې هغه کس غریب وي او نور څه نه شي اخیستلی،
باید یو ورۍ د تاوان د نذرانې په توګه راوړي. کاهن به هغه
ښبنتن ته د وقف کولو دپاره پورته ونیسي او د هغه کس دپاره به
کفاره ادا کړي. هغه به یو کیلوګرام ښه اوړه چې د زیتونو تېل
ورسره ګډ وي، د غلې دانې د نذرانې دپاره راوړي او یوه پیاله
تېل. ۲۲ همدارنګه هغه کس به دوه کوترې یا دوه قمري ګانې
راوړي، یوه د ګناه د نذرانې دپاره او بله د سوځېدونکې نذرانې
دپاره. ۲۳ هغه باید په اتمه ورځ دا شیان د خپل ځان د پاکېدلو
دپاره د سپېڅلې خېمې د دروازې په خوله کې کاهن ته راوړي.
۲۴ کاهن به ورۍ او د زیتونو تېل د تاوان د نذرانې دپاره واخلي


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او څښتن ته به يې د وقف کولو دپاره پورته ونيسي. ۲۵ هغه به
ورى د تاوان د نذرانې په توګه حلال کړي او د هغه لړه وينه به
واخلي او د هغه کس چې پاکيږي، د ښي غوږ په نرمۍ، د ښي
لاس په غټې ګوتې او د ښي پښې په غټې ګوتې به يې وسولوي.
۲۶ بيا دې کاهن لږ تېل راواخلي او د خپل چپ لاس په ورغوي
کې دې توى کړي. ۲۷ هغه دې په خپله ښي ګوته د خپل ورغوي
څخه لږ تېل اووه ځلې د څښتن په حضور کې وشيندي. ۲۸ د
خپل ورغوي څخه دې لږ تېل په هماغو ځايونو باندې وسولوي
چې د تاوان د نذرانې وينه يې ورباندې سولولې وه، يعنې د هغه
کس چې پاکيږي د هغه د ښي غوږ په نرمۍ، د ښي لاس په غټې
ګوتې او د ښي پښې په غټې ګوتې دې هغه وسولوي. ۲۹ کاهن به
هغه تېل چې د هغه په ورغوي کې پاتې دي، د هغه کس په سر
باندې چې پاکيږي، توى کړي او په دې ډول به د هغه دپاره د
څښتن په حضور کې کفاره ادا کړي. ۳۰-۳۱ بيا به هغه کس د هغو
کوترو يا قمري ګانو څخه يوه د ګناه د نذرانې په توګه او بله د
سوځېدونکې نذرانې په توګه د غلې دانې د نذرانې سره يوځاى


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

قرباني کړي. په دې ډول به کاهن د هغه کس دپاره چې پاکېږي، د
څښتن په حضور کې کفاره ادا کړي. (۳۲) دا مقررات د هغه چا
دپاره دي چې د پوستکي په ساري ناروغۍ باندې اخته وي او د
خپل ځان د پاکوالي دپاره هغه نذرانې چې رواج وې، نه شي
اخيستلی.»

## په کورونو کې چېناسکې

(۳۳) څښتن موسی او هارون ته وويل: (۳۴) «کله چې تاسو د
کنعان خاورې ته چې تاسو ته يې ستاسو د ملکيت په توګه
درکوم، ورننوځئ او که چېرې په تاسو کې څوک په يو کور کې
يوه چېناسکه چې ما درلېږلې ده پيدا کړي، (۳۵) نو د هغه کور
خاوند بايد لاړ شي او کاهن ته دې داسې ووايي چې ما په خپل
کور کې يو شی ليدلی دی چې د چېناسکې په شان ښکاري. (۳۶)
کاهن به داسې حکم وکړي چې مخکې له دې چې هغه د
چېناسکې د معاينه کولو دپاره لاړ شي، هرڅه دې د هغه کور څخه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راوویستل شي. که نه، نو هرڅه چې په هغه کور کې دي، هغه به ناپاکه اعلان شي. له هغې وروسته دې کاهن دننه لاړ شي او کور دې معاینه کړي. ۳۷ هغه دې په دېوالونو باندې چېناسکې معاینه کړي. که چېرې په هغه کې شین بخن یا سوربخن داغونه وي چې دېوال خرابوي، ۳۸ نو کاهن به د هغه کور څخه لاړ شي او کور به د اوو ورځو دپاره بند کړي. ۳۹ په اوومه ورځ به کاهن بېرته راشي او هغه کور به بیا معاینه کړي. که چېرې چېناسکه په دېوالونو باندې خپره شوې وي، ۴۰ هغه دې حکم وکړي چې هغه تیږې چې چېناسکېورباندې پیدا شوې دي، هغه دې لېرې شي او د ښار څخه دې دباندې په یو ناپاک ځای کې وغورځول شي. ۴۱ له هغې وروسته باید کاهن ټول دنننی دېوالونه په یو چا باندې وتوږي او خاوره دې د ښار څخه دباندې په یو ناپاکه ځای کې وغورځوي. ۴۲ بیا دې د هغو تیږو په ځای چې لېرې کړای شوې دي د نورو تیږو څخه کار واخیستل شي او دېوالونو ته دې نوی اخېر ورکړای شي.

۴۳ که چېرې د دېوالونو د تیږو د لېرې کولو، توږلو او اخېرولو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه وروسته بیا په هغه کور کې چڼاسکه راښکاره شي ۴۴ نو کاهن
دې لاړ شي او هغه دې بیا معاینه کړي. که چېرې په کور کې
چڼاسکه خپره شوې وي، نو دا یوه خرابوونکې چڼاسکه ده او دا
کور ناپاک دی. ۴۵ هغه کور باید وران شي او د هغه تیږې، تیرونه
او ټوله خاوره باید د ښار څخه دباندې یو ناپاکه ځای ته یووړل
شي. ۴۶ په هغه دوران کې چې کاهن هغه کور بند اعلان کړی
وي، نو هرڅوک چې هغه ته ننوځي، هغه به تر ماښامه پورې
ناپاک وي. ۴۷ همدارنګه هرڅوک چې په هغه کور کې خوب
کوي یا خوراک کوي، باید خپل کالي ووینځي.

۴۸ خو که چېرې کاهن راشي او هغه معاینه کړي، نو که د کور
د اخیړولو څخه وروسته چڼاسکه خپره شوې نه وي، نو هغه به
کور پاک اعلان کړي، ځکه چې چڼاسکه ورکه شوې ده. ۴۹ هغه
دې د کور د پاکولو دپاره دوه مرغۍ، د سبر لرګی، سور تار او د
وېلني بوټی راواخلي. ۵۰ هغه به د دغو مرغیو څخه یوه د خټو د
لوښي دپاسه چې د چینې تازه اوبه په کې وي، حلاله کړي. ۵۱ بیا
دې د سبر لرګی، د وېلني بوټی، سور تار او ژوندی مرغۍ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راواخلي او هغه دې د مړې مرغۍ په وینه او تازه اوبو کې غوټه کړي او په کور باندې دې اووه ځلې وشیندي. (۵۲) په دې ډول به کاهن هغه کور د مرغۍ په وینه، تازه اوبو، ژوندۍ مرغۍ، د سبر په لرګي، د وړلني په بوټي او سور تار باندې پاک کړي. (۵۳) بیا دې هغه ژوندۍ مرغۍ د ښار څخه دباندې په صحرا کې خوشې کړي. په دې ډول به هغه د کور دپاره د پاکوالي مراسم سرته ورسوي او هغه به پاک شي.»

(۵۴) دا مقررات د پوستکي د هرې ساري ناروغۍ دپاره دي لکه خارښت، (۵۵-۵۶) زخم، دانې یا داغ او همدارنګه په کالیو یا په کور کې چناسکه. (۵۷) د دې مقرراتو له مخې دا پرېکړه کېدای شي چې یو شی په کوم وخت کې پاک دی او په کوم وخت کې ناپاک.

## په جنسي لحاظ د بدن ناپاکي

(۱) څښتن موسی او هارون ته وویل: (۲) «د اسراییلیانو سره خبرې وکړئ او ورته ووایئ: کله چې د یو سړي د تناسلي الې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شخه زوه راووځي، هغه زوه ناپاکه ده. ۳ که دا زوه د هغه د
تناسلي الې شخه رابهيږي يا دا بهيدل د پړسوب له امله بند شوي
وي، هغه به ناپاک کړي. ۴ که داسې سړی چې زوه ورڅخه
راوځي، که هغه په هرې بسترې باندې څملي او يا په هر شي
باندې کښيني هغه شی به ناپاک شي. ۵ هرڅوک چې د هغه د
بسترې سره ولګيږي، ۶ يا په هغه شي باندې کښيني چې هغه
سړی ورباندې ناست ؤ، نو هغه کس بايد خپل کالي ووينځي او
غسل دې وکړي، خو هغه به تر مابنامه پورې ناپاک پاتې شي.
۷ هرڅوک چې د هغه سړي سره ولګيږي، بايد خپل کالي
ووينځي او غسل دې وکړي، خو هغه به تر مابنامه پورې ناپاک
پاتې شي. ۸ که چېرې هغه کس چې زوه ورڅخه راوځي په
داسې يو کس باندې چې هغه پاک وي لياړې واچوي، هغه سړی
بايد خپل کالي ووينځي او غسل دې وکړي، خو هغه به تر مابنامه
پورې ناپاک پاتې شي. ۹ که دا سړی په کوم زين باندې کښيني،
هغه به ناپاک شي ۱۰ او هرڅوک چې د هغه شي سره ولګيږي
چې دا سړی ورباندې ناست ؤ، هغه به تر مابنامه پورې ناپاک


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وي. هرڅوک چې داسې شيان راپورته کړي، هغه بايد خپل کالي ووينځي او غسل دې وکړي، خو تر ماښامه پورې به ناپاک پاتې شي. ⑪ که چېرې يو سړی چې زوه ورځخه راووځي او خپل لاسونه يې نه وي وينځلي، په کوم بل کس باندې ولګېږي، نو هغه څوک چې دی ورسره لګېدلی دی بايد خپل کالي ووينځي او غسل دې وکړي، خو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک پاتې شي. ⑫ که هغه سړی چې زوه ورځخه راوځي د خټو هر لوښي ته لاس وروړي، هغه بايد مات شي او که د لرګي کوم لوښي ته لاس وروړي، هغه بايد ووينځل شي.

⑬ له هغې وروسته چې د زوې د راوتلو څخه د دغه سړي علاج وشي، هغه بايد اووه ورځې صبر وکړي او بيا دې د چينې په تازه اوبو کې خپل کالي ووينځي او غسل دې وکړي، نو هغه به پاک شي. ⑭ هغه بايد په اتمه ورځ دوه کوترې يا دوه قمري ګانې واخلي او د ښښتن حضور ته دې د سپېڅلي خېمې د دروازې خولې ته راشي او هغه دې کاهن ته ورکړي. ⑮ کاهن دې هغه قرباني کړي، يوه د ګناه د نذرانې دپاره او بله د سوځېدونکې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نذراني دپاره. په دې ډول به کاهن د ښښتن په حضور کې د هغه
سړي دپاره د هغه د زوې د راوتلو له امله کفاره ادا کړي.

(۱۶) کله چې له يو سړي څخه مني راووځي، هغه بايد خپل
ټول ځان ووينځي، خو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک پاتې شي.
(۱۷) هر هغه شی چې د ټوکر يا څرمنې څخه جوړ شوی وي او
مني ورباندې لوېدلي وي بايد ووينځل شي، خو هغه به تر ماښامه
پورې ناپاک پاتې شي. (۱۸) سړی او ښځه دواړه بايد د يوځای
کېدلو څخه وروسته غسل وکړي، خو تر ماښامه پورې به ناپاک
پاتې شي.

(۱۹) کله چې يوه ښځه مياشتينی ناروغي ولري، هغه اووه
ورځې ناپاکه پاتې کيږي. هرڅوک چې دې ښځې ته لاس
وروړي، هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي. (۲۰) که هغه د خپلې
مياشتينۍ ناروغۍ په وخت کې په هر شي باندې کښېني يا
ورباندې څملي، هغه شی به ناپاک شي. (۲۱-۲۳) هرڅوک چې د هغې
د بسترې يا هر هغه شي سره چې هغه ورباندې ناسته وي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ولګيږي، بايد خپل کالي ووينځي او غسل دې وکړي، خو هغه به
تر ماښامه پورې ناپاک پاتې شي. ۲۴ که چېرې يو سړی د هغې
ښځې سره په هغه وخت کې يوځای شي کله چې د هغې
مياشتينۍ ناروغي پيل کيږي، هغه سړی به اووه ورځې ناپاک وي.
په هرې بسترې باندې چې هغه څملي هغه بستره به ناپاکه شي.

۲۵ که چېرې د يوې ښځې څخه د مياشتينۍ ناروغۍ څخه
پرته د ډېرو ورځو دپاره وينه بهيږي، يا برسېره په عادي مياشتينۍ
ناروغۍ د هغې څخه وينه بهيږي، نو ترڅو پورې چې دا وينه
بهيږي، هغه ښځه د مياشتينۍ ناروغۍ په شان ناپاکه پاتې کيږي.
۲۶ په دې موده کې که چېرې هغه په هره بستره باندې څملي او
يا په هر شي باندې چې کښيني هغه به ناپاک شي. ۲۷ هرڅوک
چې دغو شيانو ته لاس وروړي هغه به ناپاک شي. هغه بايد خپل
کالي ووينځي او غسل دې وکړي، خو تر ماښامه پورې به ناپاک
پاتې شي. ۲۸ وروسته له دې چې د هغې وينه ودريږي، بايد اووه
ورځې صبر وکړي، نو بيا به هغه پاکه شي. ۲۹ په اتمه ورځ بايد
هغه ښځه دوه کوترې يا دوه قمري ګانې واخلي او هغه دې د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

سپېڅلي خېمې د دروازې په خوله کې کاهن ته راوړي. ۳۰ کاهن دې یوه د ګناه د نذرانې دپاره او بله د سوځېدونکې نذرانې دپاره قرباني کړي. په دې ډول به هغه د څښتن په حضور کې د هغې ښځې دپاره د هغې د وینې د بهېدلو د ناپاکۍ په خاطر کفاره ادا کړي.

۳۱ کله چې ستاسو څخه کوم یو ناپاک وي، باید د اسراییلو د قوم څخه لېرې واوسېږي. که نه، نو زما سپېڅلې خېمه به چې د کمپ په منځ کې ده، ناپاکه شي او ټول قوم به مړ شي.»

۳۲-۳۳ دا مقررات د هغه سړي په اړه دي چې د هغه څخه زوه یا مني راوځي او د هغې ښځې په اړه چې د میاشتینۍ ناروغۍ په دوران کې وي او یا د هغه سړي په اړه چې د یوې ناپاکې ښځې سره یوځای شي.

## د کفارې ورځ


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ د هارون د دوو زامنو د مړینې څخه وروسته چې څښتن
ته ورنژدې شول او مړه شول، څښتن د موسی سره خبرې وکړې.
٢ هغه وویل: «خپل ورور هارون ته ووایه چې یوازې په یو
مناسب وخت کې دې ډېر سپېڅلي ځای ته چې د پردې شاته دی
ورننوځي، ځکه دا هغه ځای دی چې زه په کې په وریځو کې د
لوظ د صندوق د سرپوښ دپاسه راښکاره کېږم. که هغه سرغړونه
وکړي، نو وبه وژل شي. ٣ کله چې هارون د ګناه د نذرانې دپاره
یو خوسی او د سوځېدونکې نذرانې دپاره یو پسه راوړي، بیا هغه
کولای شي چې ډېر سپېڅلي ځای ته ورننوځي.»

٤ بیا څښتن دا لارښووني وکړې: «مخکې له دې چې هارون
ډېر سپېڅلي ځای ته ننوځي، هغه باید غسل وکړي او د کاهنتوب
دغه سپېڅلي کالي دې واغوندي: د کتان کمیس، نېکرونه، پټۍ او
لونګۍ. ٥ د اسراییلو قوم دې هارون ته دوه سېرلي د ګناه د
نذرانې دپاره او یو پسه د سوځېدونکې نذرانې دپاره ورکړي. ٦
هارون دې یو غویی د خپلې ګناه د نذرانې دپاره وړاندې کړي
چې د خپل ځان او خپلې کورنۍ دپاره کفاره ادا کړي. ٧ بیا دې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه دوه سېرلي واخلي او د سپېڅلي خېمې د دروازې په خوله
کې دې د څښتن په حضور کې وړاندې کړي. ۸ هغه دې د دوو
سېرليو دپاره پچه واچوي او د دوه تيرو څخه دې کار واخلي، په
يوې باندې دې د څښتن دپاره نښه وکړي او په بلې باندې دې د
عزازيل دپاره. ۹ هارون به هغه سېرلی چې د څښتن دپاره د
پچې په وسيله غوره شوی وي، د ګناه د نذرانې په توګه قرباني
کړي. ۱۰ کوم سېرلی چې د عزازيل دپاره غوره شوی ؤ هغه به
څښتن ته ژوندی وړاندې شي او په دښته کې به عزازيل ته
ورولېږل شي، د دې په خاطر چې د قوم د ګناهونو دپاره کفاره ادا
کړي.

۱۱ کله چې هارون يو غويی د خپلې ګناه د نذرانې دپاره
حلال کړي چې د خپل ځان او خپلې کورنۍ دپاره کفاره ادا کړي،
۱۲ نو هغه به د قربانۍ د ځای څخه د اور يو لوښی چې د لګول
شويو سکارو څخه ډک وي او دوه موټې ښه ميده شوې
خوشبويي راواخلي او هغه دې ډېر سپېڅلي ځای ته راوړي. ۱۳
هغه به هلته د څښتن په حضور کې خوشبويي په اور باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

واچوي او د خوشبويۍ لوګی به د لوظ د صندوق سرپوښ پټ
کړي، ترڅو هارون هغه ونه ويني او مړ نه شي. ۱۴ د غويي لړه
وينه به واخلي او په خپلې ګوتې باندې به يې د سرپوښ مخکينۍ
برخې ته وشيندي او بيا به د هغې څخه لږه د لوظ د صندوق
مخې ته اووه ځلې وشيندي.

۱۵ بيا به هارون د ګناه د نذرانې سېرلی د قوم په خاطر حلال
کړي او د هغه وينه به ډېر سپېڅلي ځای ته يوسي او هماغسې
کار به ورسره وکړي چې د غويي په وينه باندې يې کړی ؤ. هغه
به د لوظ د صندوق په سرپوښ او د صندوق مخې ته وشيندي.
۱۶ په دې ډول به هغه د پاکولو مراسم سرته ورسوي چې ډېر
سپېڅلی ځای د اسراييلو د قوم د ناپاکۍ او د هغوی د ټولو
ګناهونو څخه پاک کړي. هغه دې دا کار د سپېڅلې خېمې دپاره
هم وکړي، ځکه چې هغه د کمپ په منځ کې ولاړه ده او کمپ په
مذهبي لحاظ ناپاک دی. ۱۷ له هغه وخت څخه چې هارون ډېر
سپېڅلي ځای ته د کفارې د ادا کولو دپاره ننوځي، د هغه د راوتلو
پورې بايد هېڅوک په خېمه کې نه وي. کله چې هغه د خپل ځان،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې کورنۍ او ټول قوم دپاره کفاره ادا کوي، ۱۸ نو باید بیا د
نذرانو د سوځولو دپاره د قربانۍ ځای ته لاړ شي او هغه پاک
کړي. هغه باید د غويي او سېرلي لړه وینه واخلي او د قربانۍ د
ځای په ښکرونو باندې دې وسولوي. ۱۹ هغه باید په خپله ګوته
لړه وینه واخلي او د قربانۍ په ځای باندې دې اووه ځلې
وشیندي. په دې ډول دې هغه د اسراییلو قوم د ناپاکۍ څخه پاک
او سپېڅلې کړي.

## د ګناهونو د لیرې کولو سېرلی

۲۰ کله چې هارون د ډېر سپېڅلي ځای، د سپېڅلې خېمې
پاتې برخې او د قربانۍ د ځای د پاکولو مراسم سرته ورسوي،
هغه به هغه ژوندی سېرلی څښتن ته وړاندې کوي چې د عزازیل
دپاره غوره شوی دی. ۲۱ هغه دې دواړه لاسونه د ژوندي سېرلي
په سر باندې کېږدي او په هغه باندې دې د اسراییلو د قوم د ټولو
بدکاریو، ګناهونو او سرکښیو اقرار وکړي او هغه دې د سېرلی په


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

سر باندې واچوي. هغه به دا سېرلی لېرې دښتې ته ولېږي او يو
داسې سړي ته دې وسپاري چې د دې کار دپاره ټاکل شوی وي.
٢٢ کله چې هغه سړی هغه سېرلی په دښته کې خوشې کړي، نو
هغه سېرلی به د هغوی ټول ګناهونه د خپل ځان سره يو شاړ
ځای ته يوسي.

٢٣ بيا دې هارون سپېڅلې خيمې ته ورننوځي او د کتان هغه
کالي چې ډېر سپېڅلي ځای ته د ورننوتلو څخه مخکې يې
اغوستی ؤ، وباسي او هلته دې پرېږدي. ٢٤ هغه به په يو سپېڅلي
ځای کې غسل وکړي او خپل عادي کالي به واغوندي. بيا به هغه
دباندې راووځي او يوه سوځېدونکې نذرانه به د ځان او يوه د قوم
دپاره قرباني کړي، د دې په خاطر چې د خپل ځان او د هغوی
دپاره کفاره ادا کړي. ٢٥ همدارنګه هغه به د قربانۍ په ځای باندې
د حيوان وازګه چې د ګناه د نذرانې دپاره ده، وسوځوي. ٢٦ هغه
سړی چې سېرلی يې په دښته کې عزازيل ته ورپرېښود، بايد کمپ
ته د بېرته راتګ څخه مخکې خپل کالي ووينځي او غسل دې
وکړي. ٢٧ هغه غويی او سېرلی چې د ګناه د نذرانو دپاره ورڅخه


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

کار واخیستل شو او د هغو وینه د کفارې د ادا کولو دپاره ډېر
سپېڅلي ځای ته راوړل شوه، باید د کمپ څخه دباندې یووړل
شي. د هغو پوستکي، غوښه او خوشایي دې وسوځول شي. ۲۸
کوم سړی چې هغه سوځوي باید خپل کالي ووینځي او غسل
دې وکړي، له هغې وروسته هغه کمپ ته ننوتلی شي.

## د کفارې د ورځې لمانځل

۲۹ په لاندېنیو مقرراتو باندې دې د تل دپاره عمل وشي. د
اوومې میاشتې په لسمه ورځ تاسو ټول اسراییلیان او هغه پردي
خلک چې ستاسو په منځ کې اوسیږي، باید روژه ونیسئ او هیڅ
کار باید ونه کړئ، ۳۰ ځکه چې په دې ورځ به ستاسو د پاکولو
دپاره کفاره ادا شي. بیا به تاسو د څښتن په حضور کې د خپلو
ټولو ګناهونو څخه پاک شئ. ۳۱ دا به د سبت په شان د ارام کولو
سپېڅلې ورځ وي، په دې ورځ باید تاسو روژه ونیسئ. په دغو
مقرراتو باندې دې د تل دپاره عمل وشي. ۳۲ هغه کاهن چې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

مسح شوی وي او د خپل پلار په ځای د لوی کاهن په توګه وقف شوی وي، هغه دې کفاره ادا کړي. هغه دې د کتان سپېڅلي کالي واغوندي ۳۳ او دا مراسم دې سرته ورسوي د دې په خاطر چې ډېر سپېڅلی ځای، د سپېڅلي خېمې پاتې برخې او د قربانۍ ځای پاک کړي او د کاهنانو او ټول قوم دپاره کفاره ادا کړي. ۳۴ د اسراییلیانو د ټولو ګناهونو دپاره دې په کال کې یوځل کفاره ادا شي. په دې مقرراتو باندې دې د تل دپاره عمل وشي.»

نو څنګه چې څښتن موسی ته امر کړی ؤ، هماغسې وشول.

## د وینې خوړل حرام دي

۱ څښتن موسی ته امر وکړ ۲ چې هارون او د هغه زامنو او د اسراییلو ټول قوم ته لاندېنې حکمونه ورکړي. ۳-۴ که د اسراییلو څخه یو څوک یو غویی یا یو وری یا یوه وزه څښتن ته د نذرانې په توګه د سپېڅلې خېمې د دروازې د خولې څخه پرته په بل هرځای کې حلال کړي، هغه به شریعت مات کړی وي. هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وینه توبه کړې ده او د خدای د قوم څخه باید وشړل شي. ۵ د
دې حکم معنی دا ده چې د اسراییلو خلک به له همدې وخت
څخه څښتن ته هغه حیوانات راوړي چې په صحرا کې یې
حلالول. هغوی باید هغه کاهن ته د سپېڅلې خېمې د دروازې
خولې ته راولي او د سلامتۍ د نذرانو په توګه دې قرباني کړي.
۶ کاهن دې د سپېڅلې خېمې د دروازې په خوله کې هغه وینه د
څښتن د قربانۍ په ځای باندې وشیندي او وازګه دې وسوځوي
چې بوی یې په څښتن باندې ښه لګېږي. ۷ د اسراییلو قوم باید
نور په صحرا کې د هغو پېریانو دپاره قرباني ونه کړي چې د
سېرلیو په شان ښکاري او په دې کار سره دې د څښتن سره
بې وفایي نه کوي. د اسراییلو قوم باید تل ترتله په دې حکم
باندې عمل وکړي.

۸ که چېرې کوم اسراییلی یا پردی کس چې د دوی په منځ
کې اوسېږي، سوځېدونکې نذرانه یا کومه بله قرباني ۹ څښتن ته
د نذرانې په توګه د سپېڅلې خېمې د دروازې د خولې څخه پرته
په بل هرځای کې وړاندې کړي، د خدای د قوم څخه به وشړل


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شي.

۱۰ که چېرې کوم اسراییلی یا هغه پردی کس چې د دوی په منځ کې اوسېږي کومه وینه وخوري، څښتن وايي چې د هغه په خلاف به شي او د خپل قوم څخه به يې وشړي. ۱۱ د هر ژوندي شي ژوند په وینه کې دی او څښتن هغه د اسراییلو قوم ته ورکړې ده، د دې په خاطر چې د قربانۍ په ځای باندې د ځان دپاره کفاره ادا کړي. همدا وینه ده چې د يو چا د ژوند دپاره کفاره ادا کوي. ۱۲ په دې خاطر څښتن د اسراییلو قوم ته ويلي دي چې نه به دوی او نه به هغه پردی کس چې د دوی په منځ کې اوسېږي، وینه وخوري.

۱۳ که چېرې کوم اسراییلی یا پردی کس چې د دوی په منځ کې اوسېږي، يو داسې حیوان یا مرغۍ ښکار کړي چې هغه حلال وي، باید د هغه وینه په ځمکه باندې تویه کړي او په خاورو باندې دې پټه کړي. ۱۴ د هر ژوندي شي ژوند په وینه کې دی، نو په دې خاطر څښتن د اسراییلو قوم ته ويلي دي چې باید د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هیڅ یو ژوندي شي وینه ونه خوري. هرڅوک چې هغه وخوري، باید د خدای د قوم څخه وشړل شي.

(۱۵) هرڅوک، که هغه اسراییلی یا پردی وي د یو داسې حیوان غوښه وخوري چې په خپل مرګ باندې مړ شوی وي یا د وحشي حیواناتو له خوا وژل شوی وي، باید خپل کالي ووینځي او غسل دې وکړي. هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وي، بیا به پاک شي.
(۱۶) خو که چېرې هغه خپل کالي ونه وینځي او غسل ونه کړي، نو د خپلو بدو سزا به وویني.

## زنا او نور بد عملونه

(۱) څښتن موسی ته وویل: (۲) «د اسراییلو د خلکو سره خبرې وکړه او ورته ووایه چې زه ستاسو څښتن خدای یم. (۳) د مصر د خلکو په شان کار مه کوئ چې یو وخت تاسو په کې اوسېدلئ، یا د کنعان د خلکو په شان کار مه کوئ چې زه اوس تاسو هلته بیایم. (۴) تاسو باید زما قوانینو ته غاړه کېږدئ او زما د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرمانونو له مخې عمل وکړئ. زه ستاسو څښتن خدای یم. ۵ زما
په فرمانونو او قوانینو باندې عمل وکړئ، ځکه څوک چې هغو ته
غاړه کېږدي د هغو په وسیله به ژوند وکړي. زه څښتن یم.

۶ هېڅوک دې د خپلو نژدې خپلوانو سره زنا نه کوي. زه
څښتن یم. ۷ د خپلې مور سره په زنا کولو سره د خپل پلار
سپکاوی مه کوئ. هغه ستاسو مور ده، د هغې سره زنا مه کوئ.
۸ د خپل پلار د نورو ښځو سره په زنا کولو سره د خپل پلار
سپکاوی مه کوئ. ۹ د خپلې سکه یا ناسکه خور سره که هغه
ستاسو د پلار لور وي یا د مور، که هغه تاسو سره په یو کور کې
زېږېدلې وي یا په بل ځای کې، د هغې سره زنا مه کوئ. ۱۰ د
خپلې لمسۍ سره زنا مه کوئ، هغه به ستاسو دپاره سپکاوی وي.
۱۱ د یوې ناسکه خور سره زنا مه کوئ، هغه هم ستاسو خور ده.
۱۲ د خپل پلار د خور سره زنا مه کوئ، هغه ستاسو د پلار نژدې
خپلوانه ده. ۱۳ د خپلې مور د خور سره زنا مه کوئ، ځکه چې
هغه ستاسو د مور نژدې خپلوانه ده. ۱۴ د خپل تره د ښځې سره
په زنا کولو د خپل تره سپکاوی مه کوئ، هغه هم ستاسو نژدې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خپلوانه ده. ۱۵ د خپلې انږور سره زنا مه کوئ. هغه ستاسو د
زوی ښځه ده. ۱۶ د خپلې ورېندار سره زنا مه کوئ، دا به ستاسو
د ورور دپاره سپکاوی وي. ۱۷ که تاسو د يوې ښځې سره
ثملئ، نو د هغې د لور يا د هغې د لمسۍ سره زنا مه کوئ، ځکه
چې هغوی د هغې نژدې خپلوان دي. دا ډېر بد کار دی. ۱۸ ترڅو
پورې چې ستاسو ښځې ژوندۍ وي، د خپلو ښينو سره د دوهمې
ښځې په توګه واده مه کوئ او د هغوی سره زنا مه کوئ.

۱۹ د يوې ښځې سره د هغې د مياشتينۍ ناروغۍ په دوران کې
مه يوځای کېږئ، ځکه چې هغه ناپاکه ده. ۲۰ د بل سړي د ښځې
سره زنا مه کوئ او په هغې باندې خپل ځان مه ناپاکه کوئ. ۲۱ د
خپلو ماشومانو څخه هېڅ يو ماشوم مه ورکوئ چې د مولک د
بت دپاره قرباني شي. زه ستاسو څښتن خدای يم او په دې کار به
زما سپکاوی وشي. ۲۲ هېڅ يو سړی دې د بل سړي سره بد کار
نه کوي، د دې څخه خدای کرکه کوي. ۲۳ د يو حيوان سره
جنسي اړيکې مه ساتئ او په دې ډول په دې کار خپل ځان مه
ناپاکه کوئ. يوه ښځه بايد يو حيوان ته د جنسي اړيکو په خاطر


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خپل ځان وړاندې نه کړي، دا ډېر بد کار دی.

۲۴ په دې عملونو باندې خپل ځانونه مه ناپاکه کوئ، ځکه
چې نورو قومونو په دې ډول خپل ځانونه ناپاکه کړل. دا هغه
قومونه دي چې په دې خاوره کې اوسېږي او څښتن یې د دې په
خاطر وباسي، ترڅو تاسو وکولای شئ چې هغې خاورې ته
ورننوځئ. ۲۵ د هغوی عملونو هغه خاوره ناپاکه کړې ده، نو
څښتن هغې خاورې ته سزا ورکوي او هغه مجبوروي چې خپل
اوسېدونکي وشړي. ۲۶-۲۷ هغوی دا ټول د کرکې وړ کارونه وکړل
او هغه خاوره یې ناپاکه کړه، خو تاسو باید داسې ونه کړئ. تاسو
ټول که هغه اسراییلیان وي یا هغه پردي خلک چې تاسو سره
اوسېږي، د څښتن په قوانینو او حکمونو باندې عمل کوئ. ۲۸ که
چېرې تاسو دا ځمکه ناپاکه کړئ، نو هغه به تاسو ایسته
وغورځوي لکه څنګه چې ستاسو څخه مخکې قومونه یې
غورځولي وو. ۲۹ نو هرڅوک چې د داسې کارونو څخه چې د
کرکې وړ دي کوم کار وکړي، نو د خدای د قوم څخه به وشړل
شي.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۰ څښتن وويل: «زما امرونو ته غاړه کېږدئ او د هغو د کرکې وړ رواجونو څخه پيروي مه کوئ چې ستاسو د راتګ څخه مخکې به کېدل او په هغو باندې خپل ځانونه مه ناپاکه کوئ. زه ستاسو څښتن خدای يم.»

## اخلاقي او مذهبي قوانين

۱ څښتن موسی ته وويل: ۲ «د اسراييلو د ټول قوم سره خبرې وکړه او ورته ووايه: سپېڅلي اوسئ، ځکه چې زه ستاسو څښتن خدای سپېڅلی يم. ۳ تاسو هر يو بايد د خپل مور او پلار درناوی وکړئ او بايد د سبت د ورځې څخه پيروي وکړئ. زه ستاسو څښتن خدای يم.

۴ ما مه پرېږدئ او د بتانو عبادت مه کوئ. د فلزاتو څخه خدايان مه جوړوئ او عبادت يې مه کوئ. زه ستاسو څښتن خدای يم.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۵ کله چې تاسو د سلامتۍ د نذرانې دپاره څښتن ته يو حيوان قرباني کوئ، هغه په يوې داسې طريقې سره قرباني کړئ چې زما له خوا قبوله شي. ۶ غوښه بايد په هماغه ورځ چې قرباني کوئ وخورئ يا په راتلونکې ورځ. هرڅه چې تر دريمې ورځې پورې پاتې شي، بايد وسوځول شي. ۷ که چېرې د هغې څخه لږه په دريمه ورځ وخوړل شي، هغه ناپاکه ده او دا نذرانه به قبوله نه شي. ۸ هرڅوک چې هغه وخوري، هغه به ګناهکار وي، ځکه چې هغه څه چې څښتن ته سپېڅلي دي، هغه يې عادي ګڼلي دي. هغه کس بايد د خدای د قوم څخه وشړل شي.

۹ کله چې تاسو د خپلې ځمکې حاصلات لو کوئ، نو هغه د پټي تر غاړو پورې مه لو کوئ او هغه وږي چې د لو څخه پاتې شوي وي، هغه مه راټولوئ. ۱۰ خپل د انګورو باغ ته دوهم ځل مه ورځئ او هغه انګور مه راټولوئ چې رالوېدلي وي. هغه غريبانو او پرديو خلکو ته پرېږدئ. زه ستاسو څښتن خدای يم.

۱۱ غلا مه کوئ. يو بل ته دروغ مه وايئ او يو بل مه غولوئ.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۲ زما په نوم په دروغو قسم مه خورئ او په دې ډول د خپل
خدای نوم مه سپکوئ. زه ستاسو څښتن خدای یم.

۱۳ خپل ګاونډی مه لوټوئ او هغه مه غولوئ. د یو مزدور
اجوره حتی د یوې شپې دپاره هم مه ځنډوئ. ۱۴ کڼو خلکو ته
ښکنځلې مه کوئ او د ړندو په مخکې داسې شی مه ږدئ چې
هغوی ورباندې وښوییږي، زما څخه ووېرېږئ. زه ستاسو څښتن
خدای یم.

۱۵ عدالت تر پښو مه لاندې کوئ. د غریب طرفداري مه کوئ
او د لویانو خاطر مه کوئ، خو د نورو سره په انصاف قضاوت
وکړئ. ۱۶ د هېچا په اړه دروغ مه خپروئ او کله چې یو کس په
محکمه کې په مرګ باندې محکوم وي، نو ښکاره خبرې وکړئ،
کېدای شي چې ستاسو شاهدي د هغه سره مرسته وکړي. زه
څښتن یم.

۱۷ د خپل ورور سره په خپل زړه کې کینه مه ساتئ. هغه په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښکاره د خپلې ګناه په خاطر ورتېږ، ترڅو د هغه په ګناه کې شریک نه شئ. ⑱ د خپلو خلکو څخه د بدل اخیستلو پسې مه ګرځئ. د هغوی څخه کرکه مه کوئ، خو د خپل ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه کوئ. زه څښتن یم.

⑲ زما د فرمانونو څخه پیروي وکړئ. غیر همجنس کورني حیوانات د نسل د پیدا کولو دپاره سره مه یوځای کوئ. په خپل پټي کې دوه ډوله تخمونه مه کرئ. داسې کالي مه اغوندئ چې د دوو مختلفو جنسونو څخه جوړ شوي وي.

⑳ که چېرې یو کس د یوې داسې وینځې سره چې هغه د بل کس سره کوژدن شوې وي زنا وکړي، که څه هم هغه بل کس د هغې د ازادېدلو په خاطر پیسې نه وي ورکړې، نو باید هغې وینځې او هغه کس ته چې د هغې سره یې زنا کړې وه، سزا ورکړل شي. خو هغوی دې ونه وژل شي، ځکه چې هغه ازاده شوې نه ده. ㉑ هغه سړی به د تاوان د نذرانې په توګه یو پسه د سپېڅلې خېمې د دروازې په خوله کې څښتن ته راوړي. ㉒ په


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغه باندې به کاهن د څښتن په حضور کې د هغه د ګناه په خاطر
کفاره ادا کړي او د هغه ګناه به وبخښل شي.

۲۳ کله چې تاسو د کنعان خاورې ته ورننوځئ او د مېوې يوه
ونه وکرئ، هغه مېوه د لومړنيو درېو کلونو دپاره حرامه وګڼئ. په
دې موده کې تاسو بايد هغه مېوه ونه خورئ. ۲۴ په څلورم کال به
هغه ټوله مېوه ما يعنې څښتن ته د شکرګزارۍ په خاطر وقف
شي. ۲۵ خو په پنځم کال به هغه مېوه تاسو ته حلاله وي. که
چېرې تاسو دا ټول کارونه وکړئ، ستاسو ونې به زياته مېوه
ونيسي. زه ستاسو څښتن خدای يم.

۲۶ داسې غوښه مه خورئ چې وينه په کې وي. فال مه ګورئ
او کوډې مه کوئ. ۲۷ د خپلو شقيقو ويښتان مه خرايئ او ږيره مه
لنډوئ. ۲۸ د مړي په غم کې خپل بدنونه مه غوڅوئ او خالونه
ورباندې مه جوړوئ. زه څښتن يم.

۲۹ د خپلو لورګانو څخه بدلمنې مه جوړوئ او هغوی مه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شرموئ. که داسې وکړئ، نو دا خاوره به په بدلمنۍ بدله شي او د
بدکارۍ ښخه به ډکه شي. ۳۰ د سبت د ورځې ښخه پیروي
وکړئ او د هغه ځای درناوی وکړئ چې زما عبادت په کې کیږي.
زه ښښتن یم.

۳۱ هغو خلکو ته مه ورځئ چې هغوی دعوه کوي چې دوی
کولای شي د مړو سره خبرې وکړي. همدارنګه د فال کتونکو
پسې مه ګرځئ، ځکه چې د هغوی په وسیله به تاسو ناپاک شئ.
زه ستاسو ښښتن خدای یم.

۳۲ د سپین ږیرو په مخکې پاڅیږئ، د مشرانو درناوی کوئ او
زما ښخه وېرېږئ. زه ښښتن یم.

۳۳ د هغو پردیو خلکو سره بد چلند مه کوئ چې ستاسو په
خاوره کې اوسیږي. ۳۴ د هغوی سره د یو اسراییلي په شان چلند
وکړئ او د خپلو ځانونو په شان ورسره مینه وکړئ. دا یاد ساتئ
چې تاسو هم یو وخت د مصر په خاوره کې پردي وئ. زه ستاسو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ښښتن خدای یم.

۳۵ کله چې تاسو یو شی اندازه کوئ یا هغه وزن کوئ، نو
غلطي په کې مه کوئ او هېڅوک مه غولوئ. ۳۶ د سمو
ترازوګانو، سمو وزنونو او سمو اندازو څخه کار اخلئ. زه ستاسو
ښښتن خدای یم او ما تاسو د مصر څخه راوویستلئ.

۳۷ زما د ټولو فرمانونو او قوانینو څخه پیروي کوئ. زه
ښښتن یم.»

## د سرغړونې دپاره سزا

۱ ښښتن موسی ته وویل: ۲ «اسراییلیانو ته ووایه: که
ستاسو څخه یو څوک یا کوم پردی کس چې په اسراییلو کې
اوسیږي د خپلو ماشومانو څخه کوم ماشوم د مولک بت ته د
قربانی په توګه وړاندې کړي، هغه باید ووژل شي. د قوم خلک
دې هغه سنګسار کړي. ۳ زه به د هغه کس په خلاف شم او د


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپل قوم څخه به يې وشړم، ځکه چې مولک ته د خپلو ماشومانو په قرباني کولو سره يې زما سپېڅلی ځای ناپاک کړی او زما د سپېڅلي نوم سپکاوی يې کړی دی. ۴ کله چې هغه کس داسې کار وکړي او قوم وربانديې خپلې سترګې پټې کړي او هغه کس ونه وژني، ۵ نو زه به په خپله د هغه کس، د هغه د ټولې کورنۍ او هغو ټولو په خلاف شم چې د هغه سره يوځای زما سره بې وفايي کوي او د مولک عبادت کوي. زه به هغوی د خپل قوم څخه وشړم.

۶ که چېرې تاسو هغو خلکو ته ورشئ چې کوډې کوي يا کولای شي چې د مړو سره خبرې وکړي، نو زه به ستاسو په خلاف شم او تاسې به د خپل قوم څخه وشړم. ۷ خپل ځانونه پاک کړئ او سپېڅلي اوسئ، ځکه چې زه ستاسو څښتن خدای يم. ۸ زما د فرمانونو څخه پيروي وکړئ. زه څښتن يم چې تاسو پاک او سپېڅلي کوم.

۹ که چېرې يو څوک خپل پلار يا خپلې مور ته ښکنځلې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړي، نو هغه باید ووژل شي. نو خون به يې په خپله غاړه وي.

۱۰ که څېړې یو سړی د بل سړي د ښځې سره زنا وکړي، هغه سړی او هغه ښځه دواړه باید ووژل شي. ۱۱ که چېرې یو سړی د خپل پلار د ښځو څخه د یوې ښځې سره زنا وکړي، هغه خپل پلار سپکوي، نو هغه سړی او ښځه دواړه باید ووژل شي. خون به يې په خپله غاړه وي. ۱۲ که چېرې یو سړی د خپلې انږور سره زنا وکړي، هغوی دواړه باید ووژل شي. کوم کار چې هغوی کړی دی، هغه ډېر بد کار دی او خون به يې په خپله غاړه وي. ۱۳ که چېرې یو سړی د یو بل سړي سره بد کار وکړي، نو هغوی د کرکې وړ کار کړی دی او دواړه باید ووژل شي. خون به يې په خپله غاړه وي. ۱۴ که چېرې یو سړی د یوې انجلۍ او د هغې د مور دواړو سره واده وکړي، نو درې واړه باید د خپل ډېر بد کار له امله وسوځول شي چې مړه شي، ترڅو ستاسو په منځ کې بدکاري نه وي. ۱۵ که چېرې یو سړی د یو حیوان سره جنسي اړیکې ولري، هغه باید د حیوان سره یوځای ووژل شي. ۱۶ که چېرې یوه ښځه د یو حیوان سره د جنسي اړیکو د لرلو هڅه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړي، هغه باید د حیوان سره یوځای ووژل شي. خون به یې په خپله غاړه وي.

۱۷ که چیرې یو سړی د خپلې سکه یا ناسکه خور سره واده وکړي، دا یوه رسوایي ده. هغوی باید په عام محضر کې د قوم څخه وشړل شي. هغه د خپلې خور سپکاوی کړی دی او مسوولیت به یې په خپله غاړه وي. ۱۸ که چیرې یو سړی د یوې ښځې سره د میاشتینۍ ناروغۍ په دوران کې یوځای شي، هغوی دواړه دې د قوم څخه وشړل شي، ځکه چې هغوی د پاکوالي په اړه مقررات مات کړي دي.

۱۹ د خپلې مور د خور یا د خپل پلار د خور سره زنا مه کوئ، ځکه چې دا کار به د یو نژدې خپلوان سپکاوی وي، د دغه بد کار مسوولیت به ستاسو دواړو په غاړه وي. ۲۰ که چیرې یو سړی د خپل تره د ښځې سره زنا کوي هغه خپل تره سپکوي. مسوولیت به د هغوی په غاړه وي، هغوی به بې اولاده پاتې شي. ۲۱ که چیرې یو سړی د خپلې وریندار سره واده وکړي، هغوی به


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بې اولاده وي. هغه يو ناپاکه کار کړی او د خپل وروړ سپکاوی
يې کړی دی.»

۲۲ څښتن وويل: «زما د ټولو فرمانونو او قوانينو څخه پيروي
وکړئ، ترڅو تاسو د کنعان د ځمکې څخه چې هلته مو راولم، ونه
شړم. ۲۳ د هغو خلکو د رواجونو څخه پيروي مه کوئ چې هلته
اوسيږي او زه يې د دې په خاطر شړم، ترڅو تاسو وکولای شئ
هغې خاورې ته ورننوځئ. زه د هغوی څخه د هغوی د ټولو بدو
عملونو له امله کرکه کوم. ۲۴ خو تاسو سره مې د دې غنې او
حاصلخيزې ځمکې وعده کړې ده، ترڅو هغه ستاسو ملکيت شي
او هغه به تاسو ته درکوم. زه ستاسو څښتن خدای يم او تاسو مې
د نورو قومونو څخه بېل کړي يئ. ۲۵ له دې امله تاسو بايد د
پاکو او ناپاکو حيواناتو او مرغانو ترمنځ ښکاره فرق وکړئ. هغه
حيوانات يا مرغان چې هغه مې ناپاک اعلان کړي دي، مه خورئ.
د هغو په خوړلو به ناپاک شئ. ۲۶ تاسو به پاک او سپېڅلي شئ،
ځکه چې زه څښتن سپېڅلی يم. ما تاسو د نورو قومونو څخه بېل
کړي يئ، ترڅو يوازې زما شئ.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٢٧ هر سړی یا هره ښځه چې دا دعوه کوي چې د مړو سره مشورې کوي، باید ووژل شي. تاسو باید هغه سنګسار کړئ، خون به يې په خپله غاړه وي.»

## د کاهنانو سپېڅلتوب

١ څښتن موسی ته وویل: «د کاهنانو یعنې د هارون د زامنو سره خبرې وکړه او ورته ووايه: هېڅ یو کاهن باید د خپلوانو د مړي د جنازې په مراسمو کې په ګډون کولو سره خپل ځان ناپاک نه کړي، ٢ پرته له یو نژدې خپلوان څخه لکه د هغه مور یا پلار، د هغه زوی یا لور، د هغه سکه ورور، ٣ یا یوه پېغله خور چې واده شوې نه وي او مېړه نه لري چې هغه وساتي. ٤ هغه به خپل ځان د هغه چا په مرګ باندې نه ناپاکه کوي چې د واده په وسیله د هغه خپلوان شوی وي.

٥ هېڅ کاهن به په دې خاطر چې هغه داسې ښکاره شي چې د چا په مرګ باندې غمجن دی، نه به د خپل سر کومه برخه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خرايي، نه به خپله ږيره لنډوي او نه به خپل بدن غوڅوي. ۶
هغه بايد پاک او سپېڅلی وي او زما نوم سپک نه کړي، ځکه
چې هغه ماته په اور باندې د خوړو نذرانې تياروي او بايد
سپېڅلی وي. ۷ يو کاهن بايد د يوې داسې ښځې سره واده ونه
کړي چې هغه بدلمنه وي يا پېغله نه وي او يا د خپل مېړه له خوا
ورته طلاق ورکړای شوی وي، ځکه چې هغه خپل خدای ته
سپېڅلی دی. ۸ خلک بايد کاهن سپېڅلی وګڼي، ځکه چې هغه
ماته د خوړو نذرانې وړاندې کوي. زه څښتن يم، زه سپېڅلی يم
او خپل خلک سپېڅلي کوم. ۹ که چېرې د يو کاهن لور بدلمنه
شي، نو هغه خپل پلار رسوا کوي او بايد وسوځول شي چې مړه
شي.

۱۰ لوی کاهن چې په سر باندې يې د مسح کولو تېل اچول
شوي دي او د دې دپاره وقف شوی دی چې د کاهنتوب کالي
واغوندي، نو بايد خپل وېښتان ګډوډ پرېنږدي او خپل کالي ونه
شلوي چې داسې ښکاره شي چې هغه د چا په مرګ باندې
غمجن دی. ۱۱-۱۲ هغه ماته وقف شوی دی. خپل ځان بايد ناپاک


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نه کړي او نه دې زما د سپېڅلي خېمې څخه په وتلو او هغه کور
ته په ننوتلو سره چې مړی په کې وي دا خېمه ناپاکه کړي، که څه
هم هغه د ده د خپل پلار مړی وي یا د مور. ۱۳ هغه باید د داسې
انجلۍ سره واده وکړي چې پېغله وي. ۱۴ هغه باید د یوې کونډې
یا طلاق شوې یا د داسې ښځې سره واده ونه کړي چې هغه
بدلمنه وي، خو یوازې د خپلې قبیلې څخه د یوې پېغلې سره دې
واده وکړي. ۱۵ که نه، نو د هغه اولادونه چې باید سپېڅلي وي،
هغوی به ناپاک وي. زه څښتن یم او ما هغه د لوی کاهن په توګه
غوره کړی دی.»

۱۶ څښتن موسی ته وویل: ۱۷ «هارون ته ووایه چې ستا د
اولادې څخه هېڅ یو سړی چې جسماني عیبونه ولري، نه شي
کولای چې ماته د خوړو نذرانه وړاندې کړي. دا خبره به تل
ترتله عملي کیږي. ۱۸ هېڅ یو سړی چې جسماني عیبونه په کې
وي، نه شي کولای چې هغه نذرانه وړاندې کړي لکه څوک چې
ړوند وي، ګوډ وي، بدشکله یا بې ډوله وي، ۱۹ د چا لاس یا پښه
چې معیوبه وي، ۲۰ څوک په ملا باندې کړوپ وي یا ټیټ قدی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

وي، څوک چې د سترګې یا د پوستکي په ناروغۍ اخته وي او
څوک چې خصي وي. ۲۱ د هارون کاهن د اولادې څخه هېڅ یو
سړی چې کوم جسماني عیبونه په کې وي، نه شي کولای چې
ماته د خوړو یوه داسې نذرانه وړاندې کړي چې په اور باندې
تیارېږي. ۲۲ داسې سړی کولای شي چې هغه خواړه وخوري
چې ماته وړاندې شوي وي، یعنې د خوړو سپېڅلې نذرانه او د
خوړو ډېره سپېڅلې نذرانه. ۲۳ خو په دې خاطر چې په هغه کې
جسماني عیب دی، هغه دې سپېڅلې پردې او د قربانۍ ځای ته
نژدې رانه شي او زما سپېڅلی ځای او هرڅه چې په کې دي هغه
دې نه ناپاکه کوي، ځکه چې زه څښتن یم او کاهنان سپېڅلي
کوم.»

۲۴ نو موسی دا هرڅه هارون او د هغه زامنو او ټولو
اسراییلیانو ته وویل.

## د نذرانو سپېڅلتوب


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١ ښښتن موسی ته وویل: ٢ «هارون او د هغه زامنو ته
ووایه چې د هغو پاکو نذرانو درناوی وکړي چې اسراییلیان یې
ماته وقف کوي، ترڅو هغوی زما سپېڅلی نوم سپک نه کړي. زه
ښښتن یم. ٣ که چېرې ستاسو د اولادې څخه کوم یو د ناپاکۍ
په حال کې هغو سپېڅلو نذرانو ته ورنژدې شي چې د اسراییلو
قوم ماته وقف کړې دي، هغه بیا هېڅکله د قربانۍ په ځای کې
خدمت نه شي کولای. دا خبره به تل ترتله عملي کېږي. زه
ښښتن یم.

٤ که چېرې د هارون د اولادې څخه کوم یو د پوستکي په
ساري ناروغۍ اخته وي یا د بدن څخه یې زوه راوځي، هغه تر
هغه وخته پورې دا پاکې نذرانې نه شي خوړلی، ترڅو پورې چې
پاک نه شي. هر کاهن چې داسې کوم شي ته لاس وروړي چې د
مړي سره د لګېدلو په وسیله ناپاک شوی وي یا که چېرې د کاهن
څخه مني ووځي، ٥ یا که چېرې هغه په ناپاک حیوان یا ناپاک
کس باندې لاس وهلی وي، نو هغه ناپاک کېږي. ٦ هر کاهن
چې دغو شیانو ته لاس وروړي هغه به ناپاک شي، نو هغه تر


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

مانبامه پورې ناپاک پاتې کیږي. بیاهم هغه پاکې نذرانې نه شي
خوړلی، ترڅو پورې چې غسل ونه کړي. ۷ کله چې لمر
پرېوځي، هغه به پاک شي او له هغې څخه وروسته هغه کولای
شي چې پاکې نذرانې وخوري، ځکه چې دا د هغه خواړه دي. ۸
هغه دې د داسې حیوان غوښه ونه خوري چې په خپل مرګ مړ
شوی وي یا د وحشي حیواناتو په وسیله وژل شوی وي، په دې
باندې به هغه ناپاک شي. زه څښتن یم.

۹ ټول کاهنان دې زما د مقرراتو څخه چې هغوی ته مې
ورکړې دي، پیروي وکړي. که نه، نو هغوی به ګناهکاران او مړه
شي، ځکه چې هغوی سپېڅلو مقرراتو ته په سپکه سترګه کتلي
دي. زه څښتن یم چې هغوی سپېڅلي کوم.

۱۰ څوک چې د کاهن د کورنۍ غړی نه وي، هغه پاکې نذرانې
نه شي خوړلی. د کاهن مېلمه یا مزدور هم هغه نه شي خوړلی.
۱۱ خو که چېرې یو کاهن په خپلو پیسو باندې یو غلام اخیستی
وي یا که چېرې یو غلام د هغه په کورنۍ کې زیږېدلی وي، هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

غلام کولای شي چې هغه خواړه وخوري. ۱۲ که چېرې د يو
کاهن لور د يو داسې سړي سره واده وکړي چې هغه کاهن نه وي،
هغه نه شي کولای چې پاکې نذرانې وخوري. ۱۳ خو که چېرې د
يو کاهن لور کونډه يا طلاقه شوې وي او اولادونه ونه لري او
بېرته راشي او د خپل پلار په کور کې اوسيږي، هغه کولای شي
چې هغه خواړه وخوري چې د هغې پلار يې د کاهن په توګه
ترلاسه کوي. په هر حال د کاهن د کورنۍ د غړو څخه پرته
هېڅوک نه شي کولای چې هغه وخوري.

۱۴ که چېرې داسې خلک چې د کاهن د کورنۍ غړي نه وي
په سهوې سره پاکې نذرانې وخوري، هغوی بايد کاهن ته د اضافه
شلو فيصدو سره پوره تاوان ورکړي. ۱۵-۱۶ کاهنان بايد نورو خلکو
ته اجازه ورنه کړي چې د دې پاکو نذرانو په خوړلو سره چې د
اسراييلو قوم يې زما دپاره وقف کوي د هغو سپکاوی وکړي،
ځکه چې په دې کار سره به هغوی ګناهکار وګڼل شي او سزا به
ومومي. زه څښتن يم او هغه نذرانې سپېڅلې کوم.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١٧ ښښتن موسی ته وویل: ١٨ «هارون او د هغه د زامنو او ټولو اسراییلیانو سره خبرې وکړه او ورته ووایه: که چېرې ستاسو څخه یو کس که هغه یو اسراییلی یا یو داسې پردی کس وي چې په اسراییلو کې اوسېږي، ماته د سوځېدونکې نذرانې دپاره یو سوغات وړاندې کوي، که هغه د نذر د ورکولو په توګه وي یا د خپلې خوښې نذرانه وي، ١٩ تاسو باید د پادې یا رمې څخه یو نر حیوان وړاندې کړئ چې کوم عیب په کې نه وي، د دې دپاره چې هغه ستاسو په خاطر قبول شي. ٢٠ که چېرې تاسو یو داسې حیوان وړاندې کړئ چې کوم عیب په کې وي، زه ښښتن به هغه قبول نه کړم. ٢١ کله چې یو کس ښښتن ته د رمې او یا پادې څخه د سلامتۍ نذرانه راوړي چې یو نذر ورکړي یا د خپلې خوښې نذرانې په توګه وي، د دې دپاره چې د منلو وړ وي، نو په هغې کې باید هېڅ عیب نه وي. ٢٢ ښښتن ته داسې حیوان مه وړاندې کوئ چې ړوند، ګوډ یا معیوب وي، زخم ولري او یا د پوستکي په دوامداره ناروغۍ اخته وي. هغه د قربانۍ په ځای باندې د یوې داسې نذرانې په توګه مه ږدئ چې په اور باندې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ښبنتن ته تیاریږي. ۲۳ که څه هم تاسو کولای شئ چې د خپلې خوښې نذرانې په توګه یو حیوان چې بې ډوله یا کوچنی وي وړاندې کړئ، خو هغه به د نذر په توګه قبول نه شي. ۲۴ ښبنتن ته هیڅ داسې حیوان مه وړاندې کوئ چې خصیه یې ټکول شوې، پرېکړل شوې، زخمي شوې یا ویستل شوې وي. تاسو باید په خپله خاوره کې داسې کار ونه کړئ. ۲۵ تاسو باید د پردیو خلکو څخه داسې حیوانات وانخلئ چې د خوړو د نذرانو په توګه یې وړاندې کړئ. هغه به ستاسو دپاره قبول نه شي، ځکه چې هغه بې ډوله دي یا عیبونه په کې دي.»

۲۶ ښبنتن موسی ته وویل: ۲۷ «کله چې یو خوسی، یو وری یا یوه وزه پیدا شي، د خپلې مور سره دې اووه ورځې پاتې شي. له اتمې ورځې څخه به هغه د یوې داسې نذرانې په توګه د منلو وړ وي چې ښبنتن ته په اور باندې تیاریږي. ۲۸ یوه غوا او د هغې خوسی یا یوه مېږه او د هغې وری یا یوه وزه او د هغې بچی په یوه ورځ مه حلالوئ. ۲۹ کله چې تاسو ښبنتن ته د شکرانې یوه نذرانه قرباني کوئ، نو د مقرراتو څخه پیروي وکړئ، ترڅو


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

هغه ستاسو په خاطر قبوله شي. ۳۰ هغه باید په هماغه ورځ وخوړل شي، د هغې څخه تر سهاره پورې هېڅ شی مه پرېږدئ. زه څښتن یم.

۳۱ زما د حکمونو څخه پیروي وکړئ. زه څښتن یم. ۳۲ زما سپېڅلی نوم مه سپکوئ. د اسراییلو ټول قوم باید د دې خبرې اقرار وکړي چې زه سپېڅلی یم. زه څښتن یم چې تاسو سپېڅلي کوم ۳۳ او تاسو مې د دې دپاره له مصر څخه راوویستلئ چې ستاسو خدای اوسم. زه څښتن یم.»

## مذهبي اخترونه

۱ څښتن موسی ته وویل: ۲ «د اسراییلو خلکو ته ووایه چې ما ستاسو دپاره څو مذهبي اخترونه ټاکلي دي چې سره راټول شئ او زما عبادت وکړئ. ۳ تاسو د خپل کار دپاره شپږ ورځې لرئ، خو اوومه ورځ چې د سبت ورځ ده، د ارام کولو دپاره ده. په هغه ورځ کار مه کوئ، خو د عبادت دپاره راټول


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شئ. دا مهمه نه ده چې چېرته اوسېږئ، سبت د ښبنتن ورځ ده.
۴ دغه اخترونه باید په ټاکل شویو وختونو کې اعلان کړئ.

## د فسحې او د فطیرې ډوډۍ اختر

(شمېر ۲۸: ۱۶ – ۲۵)

۵ ښبنتن ته د درناوي کولو دپاره د فسحې د اختر لمانځل هر کال د لومړۍ میاشتې په څوارلسمه ورځ د لمرپرېواته په وخت کې پیل کېږي.
۶ په پنځلسمه ورځ د فطیرې ډوډۍ اختر پیل کېږي او اووه ورځې دوام کوي. تاسو باید په دې موده کې فطیره ډوډۍ وخورئ.
۷ د دغو ورځو څخه په لومړۍ ورځ د عبادت دپاره سره راټول شئ او هېڅ خپل ورځنی کار مه کوئ.
۸ اووه ورځې هغه نذراني وړاندې کړئ چې ښبنتن ته په اور باندې تیارېږي او په اوومه ورځ به بیا د عبادت دپاره سره راټول شئ، خو هېڅ خپل ورځنی کار مه کوئ.»


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د لومړني حاصل اختر

۹ ښښتن موسی ته وویل: ۱۰ «د اسراییلیانو سره خبرې
وکړه او ورته ووایه: کله چې تاسو هغې خاورې ته چې زه يې
تاسو ته درکوم ورننوځئ او فصل يې وربېئ، نو کاهن ته لومړنی
ګېډۍ ورکړئ. ۱۱ هغه دې دا ګېډۍ د ښښتن په حضور کې پورته
کړي، ترڅو هغه ستاسو په خاطر قبوله شي. کاهن دې هغه د
سبت د ورځې څخه وروسته په بله ورځ پورته کړي. ۱۲ په
هماغه ورځ يوه سوځېدونکې نذرانه هم ښښتن ته قرباني کړئ،
يعنې يو وری چې يو کلن وي او هېڅ عيب په کې نه وي. ۱۳ د
هغې سره به تاسو د دوو کيلوګرامو ښو اوړو د غلې دانې يوه
نذرانه چې د زيتونو تېل ورسره ګډ وي وړاندې کړئ. دا يوه
داسې نذرانه ده چې په اور باندې ښښتن ته تيارېږي او بوی يې
په هغه باندې ښه لګېږي. همدارنګه د هغې سره به تاسو د ښښلو
د نذرانې په توګه يو ليتر د شرابو نذرانه هم وړاندې کړئ. ۱۴
ترڅو پورې چې تاسو خدای ته دا نذرانه راوړې نه وي، نو نوې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

غلې دانې هېڅ مه خورئ. که هغه خامې وي، نينې شوې وي، يا ډوډۍ ورڅخه پخه شوې وي هغه دې ونه خوړل شي. په دې قانون باندې دې د تل دپاره ستاسو د ټولو نسلونو له خوا عمل وشي.

## د لو کولو اختر

**(شمېر ۲۸: ۲۶ – ۳۱)**

۱۵ د سبت د ورځې په سبا چې تاسو په کې څښتن ته د
وړاندې کولو دپاره خپلې ګېډۍ راوړئ، پوره اووه هفتې وشمېرئ.
۱۶ په پنځوسمه ورځ، يعنې هغه ورځ چې د اووم سبت څخه
وروسته وي، د نوي حاصل څخه څښتن ته د غلې دانې بله نذرانه
وړاندې کړئ. ۱۷ هره کورنۍ دې دوه ډوډۍ راوړي چې ماته د
وقف کولو دپاره پورته ونيول شي. هره يوه دې د دوو کيلوګرامو
ښو اوړو څخه پخه شوې وي او خميره هم په کې وي. دا به
څښتن ته د لومړنيو رېبل شويو غلو دانو د نذرانې په توګه وړاندې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

شي. ۱۸ قوم دې د ډوډۍ سره اووه يو کلن وري، يو غويی او دوه پسونه وړاندې کړي، د دغو څخه دې په يو کې هم کوم عيب نه وي. دا به د غلې دانې او د څښلو د نذرانې سره څښتن ته يوه سوځېدونکې نذرانه وي، يوه داسې نذرانه چې بوی يې په څښتن باندې ښه لګيږي. ۱۹ بيا د ګناه د نذرانې دپاره يو سېرلی او د سلامتۍ د نذرانې دپاره دوه يو کلن وري قرباني کړئ. ۲۰ کاهن دې هغه ډوډۍ چې د لومړنيو ربېل شويو غلو دانو نښه ده، د دوه وريو سره څښتن ته د وقف کېدلو په خاطر پورته ونيسي. دا څښتن ته يوه سپېڅلې نذرانه ده چې بايد کاهنانو ته ورکړل شي. ۲۱ تاسو بايد په هماغه ورځ د عبادت دپاره سره راټول شئ او هيڅ ورځنی کار ونه کړئ. هر چېرته چې ستاسو اولاده اوسيږي، دا مقررات دې تل ترتله مراعت کړي.

۲۲ کله چې تاسو د خپلو ځمکو حاصلات لو کوئ، نو هغه د پټيو تر غاړو پورې مه لو کوئ او هغه وږي چې د لو څخه پاتې شوي وي، هغه مه راټولوئ. هغه غريبانو او پرديو خلکو ته پرېږدئ. زه ستاسو څښتن خدای يم.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د سرنیو اختر

(شمېر ۲۹: ۱ – ۶)

۲۳ څښتن موسی ته وویل: ۲۴ «د اسراییلو قوم ته ووایه چې
د هر کال د اوومې میاشتې لومړۍ ورځ د ارام کولو ځانګړې ورځ
ده او د اسراییلو ټول خلک دې د سرني د اواز په اورېدلو سره د
عبادت دپاره سره راټول شي. ۲۵ په هماغه ورځ خپل عادي کار
مه کوئ، خو څښتن ته یوه داسې نذرانه وړاندې کړئ چې په اور
باندې تیارېږي.»

# د کفارې ورځ

(شمېر ۲۹: ۷ – ۱۱)

۲۶ څښتن موسی ته وویل: ۲۷ «هر کال د اوومې میاشتې
لسمه ورځ د کفارې ورځ ده. په هغه ورځ د عبادت دپاره سره
راټول شئ او روژه ونیسئ. یوه داسې نذرانه وړاندې کړئ چې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خښتن ته په اور باندې تيارېږي. ۲۸ په هغه ورځ هېڅ کار مه کوئ، ځکه چې دا د کفارې ورځ ده چې ستاسو دپاره ستاسو د خښتن خدای په حضور کې کفاره ادا کيږي. ۲۹ هرڅوک چې په هغه ورځ روژه ونه نيسي بايد د خدای د قوم څخه وشړل شي. ۳۰ که چېرې څوک په هغه ورځ کوم کار وکړي، زه به په خپله هغه ووژنم. ۳۱ دا قانون ستاسو په ټوله اولاده باندې هر چېرته چې اوسيږي، عملي کيږي. ۳۲ د هغې مياشتې په نهمه ورځ د لمرپرېواته څخه نيولې د مياشتې د لسمې ورځې تر لمرپرېواته پورې دا ورځ د ارام کولو د يوې ځانګړې ورځې په توګه ولمانځئ او په دې دوران کې بايد تاسو روژه ونيسئ.»

# د جونګړو اختر

(شمېر ۲۹: ۱۲ – ۴۰)

۳۳ خښتن موسی ته وويل: ۳۴ «اسراييليانو ته ووايه چې د اوومې مياشتې په پنځلسمه ورځ خښتن ته د درناوی دپاره د


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

جونګړو اختر پيل کيږي. هغه اووه ورځې دوام کوي. ۳۵ په دغو ورځو کې لومړۍ ورځ د عبادت دپاره سره راټول شئ او خپل ورځنی کار مه کوئ. ۳۶ اووه ورځې څښتن ته داسې نذرانې وړاندې کړئ چې په اور باندې تيارېږي او په اتمه ورځ بيا د عبادت دپاره سره راټول شئ او د پخوا په شان نذرانه وړاندې کړئ. دا د عبادت ورځ ده او تاسو به خپل عادي کار نه کوئ.

۳۷ دا هغه اخترونه دي چې د څښتن له خوا ټاکل شوي دي. هغه داسې ولمانځئ چې سره راټول شئ او هغه ډول ډول نذرانې چې په اور باندې څښتن ته تيارېږي يعنې سوځېدونکې نذرانې، د غلو دانو نذرانې، قرباني او د څښلو نذرانې، دا هره يوه دې په خپله مناسبه ورځ هغه ته وړاندې شي. ۳۸ دا اخترونه د سبت د ورځو څخه بېل دي او دا نذرانې د عادي سوغاتونو څخه بېلې دي، يعنې ستاسو د هغو نذرانو څخه چې د نذرونو دپاره دي او د هغو د خپلې خوښې نذرانو څخه چې څښتن ته يې ورکوئ.

۳۹ نو کله چې تاسو خپل پټي ورېبل، اووه ورځې دا اختر چې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

د اوومې مياشتې په پنځلسمه ورځ پيل کيږي، ولمانځئ. لومړۍ ورځ به د ارام کولو ورځ وي او اتمه ورځ به هم د ارام کولو ورځ وي. ۴۰ په لومړۍ ورځ تاسو د خپلو ونو څخه ډېره ښه مېوه، د خرما د ونې څانګې، پاڼې لرونکې څانګې او د سيند د غاړو څخه ولې واخلئ او اووه ورځې د خپل څښتن خدای په حضور کې خوشحالي وکړئ. ۴۱ دا هر کال اووه ورځې څښتن ته د درناوي دپاره د يو اختر په توګه ولمانځئ. ستاسو راتلونکې اولاده دې تل ترتله د دې قانون څخه پيروي وکړي. هغه په اوومه مياشت ولمانځئ. ۴۲ د اسراييلو ټول خلک بايد اووه ورځې په جونګړو کې واوسيږي، ۴۳ ترڅو ستاسو اولاده په دې پوه شي کله چې ما د اسراييلو قوم د مصر څخه راوويست، هغوی مې دې ته مجبور کړل چې په ساده جونګړو کې واوسيږي. زه ستاسو څښتن خدای يم.»

۴۴ نو په دې ډول موسی د اسراييلو خلکو ته لارښوونه وکړه چې د څښتن اخترونه ولمانځي.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د څراغونو ساتنه کول

(هجرت ۲۷: ۲۰ – ۲۱)

۱ څښتن موسی ته وویل: ۲ «اسراییلیانو ته امر وکړه چې د
هغو څراغونو دپاره چې په سپېڅلي خېمه کې دي د زیتونو سوچه
تېل راوړي، ترڅو هغه په دوامداره توګه بل وساتل شي. ۳
هارون دې هر ماښام هغه بل کړي او هغه دې تر سهاره پورې د
څښتن په حضور کې د پردې څخه دباندې د لوظ د صندوق په
مخکې چې په ډېر سپېڅلي ځای کې دی، بل وساتي. دا حکم دې
د تل دپاره مراعت شي. ۴ هارون باید په هغو څراغونو باندې
پام وکړي چې د سوچه سرو زرو په څراغدان باندې دي او
وګوري چې هغه په منظمه توګه د څښتن په حضور کې بل وي.

# هغه ډوډۍ چې خدای ته وړاندې کېږي

۵ څلورویشت کیلوګرامه ښه اوړه واخله او دولس ډوډۍ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ورڅخه پخې کړه. ۶ دا ډوډۍ په دوه قطارونو کې چې په هر قطار کې شپږ ډوډۍ وي، په هغه مېز باندې کېږده چې په سوچه سرو زرو پوښل شوی دی او د څښتن په حضور کې دی. ۷ په هر قطار باندې لږه سوچه او قیمتي خوشبويي واچوه چې دا خوشبويي به څښتن خدای ته په اور باندې د تيارېدونکې نذرانې د يوې نښې په شان وي چې د ډوډۍ په ځای ورباندې کېږي. ۸ دا ډوډۍ دې په هر سبت کې د څښتن په حضور کې کېښودل شي. دا د تل دپاره د اسراييلو دنده ده. ۹ دا ډوډۍ د هارون او د هغه د اولادې ده. هغوی دې هغه په يو سپېڅلي ځای کې وخوري، ځکه چې دا د هغو نذرانو يوه ډېره سپېڅلې برخه ده چې څښتن ته په اور باندې تيارېږي.»

## د کفر ويلو او د قتل دپاره سزاګانې

۱۰-۱۱ يو سړی ؤ چې پلار يې مصری او مور يې اسراييلۍ وه چې شلوميت نومېدله، هغه د دبري لور وه چې د دان د قبيلې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څخه ؤ. دغه سړي په کمپ کې د يو اسراييلي سره شخړه وکړه. د
شخړې په وخت کې هغه څښتن ته بنکنځلې وکړې، نو هغوی دا
سړی موسی ته راوست. ۱۲ هغه يې تر څارنې لاندې وساته او
څښتن ته يې انتظار کاوه چې دوی ته ووايي چې د هغه سره څه
وکړي.

۱۳ بيا څښتن موسی ته وويل: ۱۴ «کفر ويونکی د کمپ څخه
دباندې وباسه. هرچا چې د هغه بنکنځلې چې څښتن ته يې کړې
دي اورېدلې وي، خپل لاسونه دې د هغه په سر باندې کېږدي او
ټول قوم دې هغه سنګسار کړي. ۱۵ اسراييليانو ته ووايه: که
چېرې څوک خدای ته بنکنځلې وکړي، نو هغه به د خپلو بدو
سزا ووينې. ۱۶ هرڅوک چې د څښتن په نوم کفر ووايي، بايد
ووژل شي. ټول قوم بايد هغه سنګسار کړي. که هغه يو پردی کس
وي يا اسراييلی وي، کله چې هغه د خدای په نوم کفر ووايي، بايد
ووژل شي.

۱۷ هرڅوک چې قتل وکړي، بايد ووژل شي ۱۸ او هرڅوک


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

چې د بل چا حیوان ووژني، باید تاوان یې ورکړي. قانون دا دی چې د ژوند په بدل کې ژوند واخیستل شي.

١٩ که چېرې یو څوک یو بل کس ټپي کړي، هرڅه چې هغه کړي وي، هماغه شان عمل به ورسره کېږي. ٢٠ که چېرې تاسو د چا یو هډوکی مات کړئ، ستاسو یو هډوکی به مات شي. که چېرې تاسو د چا یوه سترګه وباسئ، ستاسو یوه سترګه به وویستل شي. که چېرې تاسو د چا یو غاښ مات کړئ، ستاسو یو غاښ به مات شي. څنګه چې تاسو یو بل کس ټپي کړئ، تاسو سره به په بدل کې هماغه شان کار کېږي. ٢١ هرڅوک چې یو حیوان ووژني تاوان به یې ورکوي، خو څوک چې یو انسان ووژني، هغه به ووژل شي. ٢٢ دا قانون په تاسو ټولو باندې عملي کېږي، یعنې په اسراییلیانو او په هغو پردیو خلکو باندې چې ستاسو په منځ کې اوسیږي، ځکه چې زه ستاسو څښتن خدای یم.»

٢٣ کله چې موسی د اسراییلو قوم ته دا خبرې وکړې، هغوی


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

دا سړی د کمپ څخه دباندې وويست او سنګسار يې کړ. په دې ډول د اسراييلو قوم هغه څه وکړل چې څښتن يې موسی ته امر کړی ؤ.

## اووم کال

**(تثنيه ۱۵: ۱ – ۱۱)**

۱ د سينا په غره باندې څښتن موسی ته وويل: ۲ «د
اسراييليانو سره خبرې وکړه او ورته ووايه: کله چې تاسو هغې
خاورې ته چې زه يې درکوم ورننوځئ، بايد څښتن ته د درناوي
په خاطر هر اووم کال د ځمکې د کرلو څخه ډډه وکړئ. ۳ شپږ
کاله خپل پټي وکرئ او شپږ کاله د خپلو انګورو د تاکونو څانګې
اصلاح کړئ او حاصلات يې راټول کړئ. ۴ خو په اووم کال دې
ځمکه بيخي شاړه پاتې شي، دا به څښتن ته وقف شوی کال وي.
په دې کال کې خپل پټي مه کرئ او د خپلو انګورو د تاکونو
څانګې مه اصلاح کوئ. ۵ هغه غلې دانې مه ريبئ چې بې له


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کرلو په خپله راشني کېږي او د خپلو هغو تاکونو څخه انګور مه راټولوئ چې څانګې يې اصلاح شوې نه وي. دا يو کال دی چې ځمکه په کې بيخي شاړه پاتې کېږي. ۶-۷ خو بياهم تاسو، ستاسو غلامان، ستاسو مزدوران او هغه پردي خلک چې ستاسو په منځ کې اوسيږي او همدارنګه ستاسو اهلي او وحشي حيوانات کولای شي هغه څه چې په ځمکه کې راشنه کيږي، وخوري.

## د بېرته ورکولو کال

۸ اووه ځلې اووه کاله وشمېرئ، چې ټول نهه څلوېښت کاله کيږي. ۹ بيا د اوومې مياشتې په لسمه ورځ چې د کفارې ورځ ده، په ټول وطن کې سرني ووهئ. ۱۰ په دې ډول به تاسو پنځوسم کال سپېڅلی کال وګڼئ او د وطن ټولو اوسېدونکو ته به ازادي اعلان کړئ. د دې کال په دوران کې به هغه ټول جايداد چې خرڅ شوی وي، خپل اصلي خاوند يا د هغه اولادې ته بېرته ورکړل شي او هرڅوک چې د غلام په توګه خرڅ شوی وي،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خپلې کورنۍ ته به ورستون شي. (۱۱) پنځوسم کال به ستاسو دپاره
د بېرته ورکولو کال وي. تاسو خپلې ځمکې ونه کرئ او هغه غلې
دانې ونه رېبئ چې په خپله راشنې کېږي او د خپلو هغو تاکونو
څخه انګور مه راټولوئ چې څانګې يې اصلاح شوې نه وي. (۱۲)
د بېرته ورکولو ټول کال به ستاسو دپاره پاک وي، تاسو به يوازې
هغه څه خورئ چې په پټي کې په خپل سر راشنه کېږي.

(۱۳) په دې کال کې به هغه ټول جايداد چې خرڅ شوی وي،
خپل اصلي خاوند ته بېرته ورکړل شي. (۱۴) که چېرې تاسو په
خپل يو هېوادوال باندې ځمکه خرڅه کړئ يا يې ورڅخه واخلئ،
د يو بل څخه ګټه مه اخلئ. (۱۵) د ځمکې بيه دې د هغو کلونو د
شمېر له مخې حساب شي چې د بېرته ورکولو د بل کاله پورې په
کې دا ځمکه حاصل ورکولای شي. (۱۶) که چېرې کلونه ډېر وي،
نو بيه به يې لوړه وي، خو که چېرې کلونه کم وي، نو بيه به يې
ټيټه وي، ځکه چې څه چې خرڅيږي هغه به د فصلونو د شمېر له
مخې وي. (۱۷) د يو بل څخه ګټه مه اخلئ خو زما څخه ووېرېږئ،
ځکه چې زه ستاسو څښتن خدای يم.


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# په اووم کال به خدای خوراک تیاروي

۱۸ د څښتن د ټولو فرمانونو او قوانينو څخه پيروي وکړئ،
ترڅو په دې خاوره کې په امن سره ژوند وکړئ. ۱۹ ځمکه به
خپل حاصلات ورکړي او تاسو چې هرڅه غواړئ د خوړلو دپاره
به يې ولرئ او په امن کې به ژوند کوئ.

۲۰ خو کېدای شي چې تاسو پوښتنه وکړئ: که چېرې مونږ
څه شی ونه کرو او حاصل راټول نه کړو، نو په اووم کال به څه
شی وخورو؟ ۲۱ زه به په شپږم کال تاسو ته داسې برکت درکړم
چې ځمکه به د درېو کلونو دپاره پوره حاصل ورکړي. ۲۲ کله
چې تاسو د اتم کال په دوران کې خپلې ځمکې وکرئ، د هغو
حاصلاتو څخه به خواړه خورئ چې د شپږم کال په دوران کې
راټول شوي وو او په نهم کال کې به هغه خواړه وخورئ چې
تاسو په اتم کال کې کرلي دي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

# د جايداد بېرته ورکول

۲۳ تاسو بايد خپله ځمکه د تل دپاره خرڅه نه کړئ، ځکه چې دا ستاسو نه ده. هغه ځمکه زما ده او تاسو په کې د هغو پرديو خلکو په شان يئ چې کولای شي د هغې څخه يوازې ګټه واخلي.

۲۴ کله چې ځمکه خرڅيږي، د هغې اصلي خاوند حق لري چې هغه بېرته په بيه واخلي. ۲۵ که چېرې ستاسو اسراييليانو څخه يو کس غريب شي او مجبور شي چې د خپلې ځمکې څخه يو څه ځمکه خرڅه کړي، د هغه ډېر نژدې خپلوان بايد هغه بېرته واخلي. ۲۶ که چېرې يو کس يو خپلوان هم ونه لري چې هغه بېرته واخلي، کېدای شي چې هغه وروسته شتمن شي او پوره پيسې ولري چې هغه بېرته واخلي. ۲۷ نو په داسې حالت کې هغه بايد د حاصلاتو بيه د هغو کلونو دپاره معلومه کړي چې د بېرته ورکولو تر راتلونکي کاله پورې پاتې وي او د هغو پيسې دې هغه کس ته ورکړي چې ورباندې چې هغه خرڅه شوې وي. بيا هغه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کولای شي چې بېرته خپله ځمکه واخلي. ۲۸ خو که چېرې اصلي خاوند نه شي کولای چې هغه ځمکه بېرته په بيه واخلي، نو هغه به د بېرته ورکولو د راتلونکي کال پورې د نوي خاوند وي. د بېرته ورکولو په کال به هغه بېرته خپل اصلي خاوند ته ورکړل شي.

۲۹ که چېرې يو کس په دېوال لرونکي ښار کې يو کور خرڅ کړي، دا حق لري چې د لومړي کال په ټول دوران کې د خرڅېدلو د نېټې څخه را په دې خوا هغه بېرته واخلي. ۳۰ خو که چېرې هغه په دې کال کې بېرته وانخلي، د هغه د بېرته اخيستلو حق له لاسه ورکوي او هغه کور د اخيستونکي او د هغه د اولادې تلپاتې ملکيت کيږي. هغه به د بېرته ورکولو په کال کې بېرته ورنه کړای شي. ۳۱ خو کوم کورونه چې په بې دېواله کليو کې دي، په هغو باندې دې د پټيو په شان کار وشي. اصلي خاوند حق لري چې هغه بېرته واخلي او هغه دې د بېرته ورکولو په کال کې بېرته ورکړای شي. ۳۲ لاويان دا حق لري چې خپل جايداد په هغو ښارونو کې چې هغوی ته ورکړل شوي دي، په هر وخت کې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

بېرته په بيه واخلي. ۳۳ که چېرې يو لاوي د دغو ښارونو څخه په يو ښار کې يو کور خرڅ کړي او بېرته يې وانخلي، هغه بايد د بېرته ورکولو په کال کې بېرته ورکړای شي، ځکه چې د اسراييلو د قوم په منځ کې چې لاويان په خپلو ښارونو کې کوم کورونه لري، هغه د هغوی تلپاتې ملکيت دی. ۳۴ خو هغه څرځايونه چې د لاويانو د ښارونو په شاوخوا کې دي، هغه به هېڅکله خرڅ نه شي. دا د تل دپاره د هغوی ملکيت دی.

## غريبانو ته پورونه ورکول

۳۵ که چېرې يو اسراييلی چې تاسو سره نژدې اوسېږي غريب شي او خپل ځان ونه شي ساتلی، تاسو بايد د هغه سره داسې مرسته وکړئ لکه څنګه يې چې د يو پردي يا موقتي اوسېدونکي سره کوئ، ترڅو هغه وکولای شي چې ستاسو په خوا کې واوسېږي. ۳۶ د يو اسراييلي څخه هېڅ سود مه اخلئ، خو د خپل خدای څخه ووېرېږئ، ترڅو ستاسو هېوادوال وکولای شي چې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ستاسو په خوا کې واوسيږي. ۳۷ په هغو پيسو باندې چې تاسو
يې ورته په پور ورکوئ د هغوی څخه سود مه اخلئ او په هغو
خوړو باندې چې تاسو يې ورباندې خرڅوئ، ګټه مه اخلئ. ۳۸
زه ستاسو څښتن خدای يم چې تاسو مې د مصر څخه
راوويستلئ، ترڅو د کنعان ځمکه درکړم او ستاسو خدای اوسم.

## د غلامانو ازادول

۳۹ که چېرې يو اسراييلی چې تاسو سره نژدې اوسيږي دومره
غريب شي چې خپل ځان په تاسو باندې د غلام په توګه خرڅ
کړي، تاسو به په هغه باندې د غلامانو کار نه کوئ. ۴۰ د هغه سره
دې د مزدور يا هغه موقتي اوسېدونکي په شان چلند وشي چې
ستاسو په منځ کې اوسيږي. هغه اسراييلی دې د بېرته ورکولو تر
بل کاله پورې ستاسو خدمت وکړي. ۴۱ په هغه وخت کې به هغه
او د هغه اولادونه ستاسو څخه لاړ شي او خپلې کورنۍ او د خپلو
نيکونو ملکيت ته به ورستانه شي. ۴۲ اسراييليان زما غلامان دي


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

چې ما د مصر څخه راوویستل. په دې خاطر باید هغوی د
غلامانو په توګه خرڅ نه شي. ۴۳ د خپل خدای څخه ووېرېږئ او
د هغوی سره سخت چلند مه کوئ. ۴۴ که چېرې تاسو غلامانو ته
اړتیا لرئ، کولای شئ چې د خپل شاوخوا قومونو څخه یې په بیه
واخلئ. ۴۵ همدارنګه تاسو کولای شئ چې ځینې پردي خلک
چې ستاسو په منځ کې اوسېږي او د هغوی اولادونه چې ستاسو
په خاوره کې پیدا شوي دي هم په بیه واخلئ. هغوی به ستاسو
ملکیت شي. ۴۶ وروسته تاسو هغوی خپلو اولادونو ته د میراث
په توګه پرېښودلی شئ او د ټول عمر دپاره ورڅخه غلامان
جوړولی شئ. خو د خپلو اسراییلیانو سره باید سخت چلند ونه
کړئ.

۴۷ فرض کړئ یو پردی یا یو داسې موقتي اوسېدونکی چې
ستاسو په منځ کې اوسېږي شتمن شي، خو کوم اسراییلی غریب
شي او خپل ځان په هغه پردي کس یا د هغه کس د کورنۍ په
غړي باندې د غلام په توګه خرڅ کړي. ۴۸ هغه د خرڅېدلو څخه
وروسته بیاهم حق لري چې بېرته په بیه واخیستل شي. یو ورور،


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۹ یا یو تره یا یو د تره زوی یا یو بل نژدې خپلوان یې بېرته اخیستلی شي. که چېرې هغه په خپله پوره پیسې لاسته راوړي، خپله ازادي په خپله اخیستلی شي. ۵۰ هغه باید د هغه چا سره چې دی یې اخیستی دی مشوره وکړي او د هغه وخت څخه چې خپل ځان یې خرڅ کړی ؤ د بېرته ورکولو د بل کاله پورې کلونه دې وشمېري او د هغه د ازادېدلو بیه دې د پاتې کلونو د هغه نرخ له مخې وي چې یو مزدور ته د هغو کلونو د شمېر په حساب ورکول کېږي. ۵۱-۵۲ که چېرې د بېرته ورکولو تر کاله پورې زیاته موده پاتې وي، هغه به د خپلې ازادۍ دپاره زیاتې پیسې ورکوي او که چېرې لږه موده پاتې وي، نو لږې پیسې به ورکوي ۵۳ د هغه سره دې د داسې مزدورانو په شان چلند وشي چې د کال په حساب اجیران نیول کېږي. تاسو باید وګورئ چې د هغه خاوند د هغه سره سخت چلند ونه کړي. ۵۴ حتی که چېرې هغه په دغو طریقو ازاد نه شي، د بېرته ورکولو په راتلونکي کال باید هغه او د هغه اولادونه ازاد شي. ۵۵ دا ځکه چې اسراییلیان زما غلامان دي چې ما د مصر څخه راوویستل. زه د هغوی څښتن خدای یم.»


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

# د اطاعت کولو دپاره برکتونه

(تثنیه ۷: ۱۲ – ۲۴، ۲۸: ۱ – ۱۴)

١ خښتن وويل: «د خپلو ځانونو دپاره بتان، مجسمې يا د
تيږو ستنې مه جوړوئ چې د هغو عبادت وکړئ. زه ستاسو
خښتن خدای يم. ٢ د سبت د ورځې ښخه پيروي وکړئ او د
هغه ځای درناوی وکړئ چې زما عبادت په کې کيږي. زه خښتن
يم.

٣ که چېرې تاسو زما د فرمانونو ښخه پيروي وکړئ او زما
امرونو ته غاړه کېږدئ، ٤ نو زه به په سم وخت په تاسو باندې
باران ووروم، ترڅو ځمکه حاصلات ورکړي او ونې مېوې ونيسي.
٥ ستاسو فصلونه به دومره پرېمانه شي چې ستاسو د غلو دانو
غوبل به تر هغې پورې دوام وکړي، ترڅو د انګورو د راټولولو
وخت راشي او ستاسو د انګورو د حاصل راټولول به تر هغه
وخته پورې دوام وکړي، ترڅو د غلو دانو د کرلو وخت


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

راورسيږي. هرڅه چې تاسو يې غواړئ، هغه به وخورئ او په خپله خاوره کې به په امن سره واوسېږئ.

۶ زه به ستاسو خاورې ته ارامي راولم او تاسو به بې د چا له وېرې خوب کولای شئ. زه به د هغې خاورې څخه خطرناک حيوانات لېرې کړم او هلته به نور جنګ نه وي. ۷ تاسو به په خپلو دښمنانو باندې بريالي شئ او په جګړه کې به يې ووژنئ. ۸ ستاسو پنځه تنه به وکولای شي چې سلو تنو ته ماتې ورکړي او ستاسو سل تنه به وکولای شي چې لسو زرو تنو ته ماتې ورکړي.
۹ زه به تاسو ته برکت درکړم او ډېر اولادونه به درکړم او په هغه لوظ باندې به ودرېږم چې تاسو سره مې کړی دی. ۱۰ ستاسو حاصلات به دومره پرېمانه شي چې هغه به تر کاله پورې ورسيږي او حتی څه چې د زاړه حاصل څخه پاتې دي هغه به لېرې وغورځوئ، ترڅو د نوي حاصل دپاره ځای پيدا شي. ۱۱ زه به راشم او ستاسو په منځ کې به اوسېږم او هېڅکله به ستاسو څخه کرکه ونه کړم. ۱۲ زه به تاسو سره مل يم او ستاسو خدای به يم او تاسو به زما قوم يئ. ۱۳ زه ستاسو څښتن خدای يم چې


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

تاسو مې د مصر څخه راوويستلئ، ترڅو نور د مصريانو غلامان
ونه اوسئ. ما ستاسو د غلامۍ جغونه مات کړل او تاسو ته مې د
دې توان درکړ چې په سرلوړۍ سره واوسېږئ.»

## د سرغړونې سزا

**(تثنيه ۲۸: ۱۵ – ۶۸)**

۱۴ څښتن ووېل: «خو که چېرې زما امرونو ته غاړه کېنږدئ،
نو تاسو ته به سزا درکړل شي. ۱۵ که چېرې تاسو زما د قوانينو او
حکمونو د منلو څخه انکار وکړئ او هغه لوظ مات کړئ چې
تاسو سره مې کړی دی، ۱۶ نو زه به تاسو ته داسې سزا درکړم: په
تاسو باندې به افت نازل کړم، داسې ناروغي چې د علاج وړ نه
وي او تبې چې تاسو به ړانده کړي او ستاسو ژوند به خراب
کړي. تاسو به خپل فصلونه وکرئ، خو هېڅ ګټه به درته ونه
رسوي، ځکه چې څه چې تاسو کرئ ستاسو دښمنان به يې
وخوري. ۱۷ زه به ستاسو په خلاف شم، ترڅو ستاسو دښمنان


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو ته ماتې درکړي او هغوی چې ستاسو څخه کرکه کوي، په
تاسو باندې به حکومت کوي. تاسو به دومره وېرېږئ چې بې له
دې چې څوک مو تعقیب کړي، تاسو به تښتئ.

۱۸ که چېرې د دغو ټولو شیانو څخه وروسته بیاهم ماته غوږ
ونه نیسئ، زه به تاسو ته ستاسو د ګناهونو په خاطر اووه چنده
زیاته سزا درکړم. ۱۹ زه به ستاسو سخت غرور مات کړم. هېڅ
باران به نه وي او ستاسو ځمکه به وچه شي او د اوسپنې په شان
به کلکه شي. ۲۰ ستاسو ټول زیار او زحمت به تاسو ته هېڅ ګټه
ونه رسوي، ځکه چې ستاسو ځمکه به فصلونه نه کوي او ونې به
مېوه ونه نیسي. ۲۱ که چېرې تاسو زما په خلاف اوسئ او ماته
غوږ ونه نیسئ، زه به بیا ستاسو سزا اووه چنده زیاته کړم. ۲۲ زه
به ستاسو منځ ته وحشي حیوانات درولېږم او هغوی به ستاسو
اولادونه ووژني، ستاسو حیوانات به له منځه یوسي او ستاسو
شمېر به دومره کم کړي چې لارې به مو خوشې پاتې شي.

۲۳ که چېرې د دغو ټولو سزاګانو سره سره زما خبرو ته غوږ


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

ونه نیسئ او زما په خلاف پاتې شئ، ۲۴ زه به په خپله ستاسو په خلاف شم او تاسو ته به له مخکې څخه اووه چنده سخته سزا درکړم. ۲۵ زه به په تاسو باندې جنګ راولم د دې په خاطر چې تاسو ته د خپل لوظ د ماتولو دپاره سزا درکړم او که چېرې تاسو د خوندي پاتې کېدلو دپاره په خپلو ښارونو کې راټول شئ، زه به په تاسو باندې ناعلاجه ناروغۍ نازلې کړم او تاسو به مجبور شئ چې خپلو دښمنانو ته تسلیم شئ. ۲۶ زه به په تاسو باندې خواړه بند کړم چې لس ښځې به په یو تنور ډوډۍ پخوي. ستاسو جیره به دومره کمه کړم چې کله تاسو هغه تول وخورئ، بیا به هم ماړه نه شئ.

۲۷ که چېرې له دې سره سره بیاهم تاسو ماته غوږ ونه نیسئ او زما په خلاف پاتې شئ، ۲۸ بیا به زه په تاسو باندې خپل غضب نازل کړم او ستاسو سزا به له پخوا څخه اووه چنده زیاته کړم. ۲۹ ستاسو لوږه به دومره زیاته شي چې خپل اولادونه به وخورئ. ۳۰ زه به ستاسو سیمه ییز عبادت ځایونه او د خوشبویۍ د سوځولو ځایونه له منځه یوسم. مړي به مو ستاسو په بې ساه


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بتانو باندې وغورځوم. زه به ستاسو څخه کرکه وکړم. ۳۱ ستاسو ښارونه به په کنډوالو بدل کړم، ستاسو عبادت ځايونه به له منځه يوسم او ستاسو قرباني به قبولې نه کړم. ۳۲ زه به ستاسو وطن داسې وران کړم چې کله ستاسو دښمنان هغه ونيسي، نو دې ورانۍ ته به هک حيران پاتې شي. ۳۳ زه به په تاسو باندې جنګ راولم او تاسو به په پرديو هېوادونو کې خپاره کړم. ستاسو ځمکه به خوشې پاتې شي او ښارونه به مو په کنډوالو بدل شي. ۳۴-۳۵ بيا به ځمکه د شاړې پاتې کېدلو د کلونو څخه چې تاسو پرېښې نه وه، ګټه واخلي. نو ترڅو پورې چې تاسو د خپلو دښمنانو په خاوره کې په جلاوطنۍ کې اوسېږئ، هغه به خوشې او شاړه پاتې شي.

۳۶ ستاسو هغه خلک چې په جلاوطنۍ کې دي، د هغوی په زړونو کې به داسې وېره واچوم چې د هغې پاڼې له اواز څخه به هم تښتي چې باد يې رپوي. هغوی به داسې منډې وهي لکه څوک چې يې په جګړه کې تعقيبوي. د هغوی په څنګ کې به هيڅ دښمن نه وي، خو هغوی به غورځيږي. ۳۷ هيڅ څوک به


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

هغوی نه تعقیبوي، خو هغوی به د یو بل دپاسه غورځیږي او دا
توان به نه لري چې د خپلو دښمنانو په وړاندې ودریږي. ۳۸
هغوی به په پردي وطن کې مړه شي او د خپلو دښمنانو خاوره به
یې ژوندي تېر کړي. ۳۹ د هغوی څخه چې څوک د خپلو
دښمنانو په خاوره کې ژوندي پاتې شي، د هغوی ژوند به ستاسو
او ستاسو د نیکونو د ګناه له امله برباد شي.

## د راتلونکې دپاره هیله

۴۰ خو ستاسو اولاده به د خپلو ګناهونو او خپلو نیکونو د
ګناهونو اقرار کوي چې زما سره یې بې وفایي او دښمني وکړه ۴۱
او زه یې د خپل ځان په خلاف کړم، ترڅو هغوی د خپلو
دښمنانو خاورې ته وشړم. په اخر کې کله چې ستاسو د اولادې
سخت زړونه نرم شي او د خپلې ګناه دپاره سزا ومومي، ۴۲ زه به
د یعقوب، اسحاق او ابراهیم سره خپل لوظ او خپل قوم ته د
ځمکې د ورکولو وعده رایاده کړم. ۴۳ لومړی باید د دې وطن


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

خلک دا ځمکه پرېږدي، ترڅو د شاړې پاتې کېدلو څخه ګټه واخلي او هغوی باید زما د قوانینو او فرمانونو د ردولو په سبب د خپلو ګناهونو پوره بیه ادا کړي. ۴۴ بیاهم، کله چې هغوی د خپلو دښمنانو په خاوره کې وي، زه به يې بيخي له منځه نه وړم. هغوی به نه پرېږدم او خپل لوظ به ورسره مات نه کړم، ځکه چې زه د هغوی څښتن خدای یم. ۴۵ خو زه به د هغوی په خاطر هغه لوظ رایاد کړم چې د هغوی د نیکونو سره مې هغه وخت کړی ؤ چې هغوی مې د مصر څخه راوویستل، د دې دپاره چې زه به د هغوی خدای اوسم او په دې ډول مې نورو قومونو ته خپل قدرت وروښود.»

۴۶ دا هغه فرمانونه، قوانین او مقررات دي چې څښتن د سینا په غره باندې د اسراییلیانو دپاره موسی ته ورکړل.

## څښتن ته د سوغاتونو په هکله قوانین

۱ څښتن موسی ته وویل: ۲ «د اسراییلیانو سره خبرې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وکړه او ورته ووايه چې که چېرې څوک يو بل کس د ځانګړي نذر په توګه څښتن ته وقف کړي، نو هغه کس به د لاندېنيو پيسو په ورکولو سره ازاد شي: ۳–۷ د سپېڅلي ځای د معيار له مخې:

- – بالغ نارينه چې عمر يې د شلو کالو څخه تر شپېتو کالو پورې وي: ۵۰ د سپينو زرو سکې.
- – بالغه ښځه: ۳۰ د سپينو زرو سکې.
- – ځوان نارينه چې عمر يې د پنځو څخه تر شلو کالو پورې وي: ۲۰ د سپينو زرو سکې.
- – ځوانه ښځينه: ۱۰ د سپينو زرو سکې.
- – ماشوم چې عمر يې د يوې مياشتې څخه تر پنځو کالو پورې وي: ۵ د سپينو زرو سکې.
- – ماشومه: ۳ د سپينو زرو سکې.
- – هغه نارينه چې عمر يې د شپېتو کالو څخه زيات وي: ۱۵ د سپينو زرو سکې.
- – هغه ښځه چې عمر يې د شپېتو کالو څخه زيات وي: ۱۰ د سپينو زرو سکې.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

٨ که چېرې يو کس چې نذر ورکوي ډېر غريب وي او نه شي کولای چې دا ټاکل شوې اندازه ورکړي، هغه دې دا کس کاهن ته وړاندې کړي او کاهن به نذر ورکوونکي ته د هغه د توان سره سمه بيه وټاکي.

٩ که چېرې د هغه نذر يو داسې حيوان وي چې څښتن ته د نذرانې په توګه د منلو وړ وي، نو داسې سوغات چې څښتن ته ورکول کېږي، هغه سپېڅلی دی. ١٠ که هغه حيوان ښه وي يا خراب، هغه نه شي کولای چې د بل حيوان سره يې بدل کړي. که چېرې داسې وکړي، نو دواړه حيوانات د څښتن کېږي. ١١ که چېرې د هغه نذر يو ناپاک حيوان وي، دا چې هغه څښتن ته د نذرانې په توګه د منلو وړ نه دی، نو هغه حيوان بايد کاهن ته راوستل شي. ١٢ کاهن دې د هغه د ښه والي يا بدوالي له مخې بيه وټاکي او دا به اخرنۍ بيه وي. ١٣ که چېرې خاوند يې وغواړي چې هغه حيوان بېرته واخلي، بايد د هغې د بيې څخه شل فيصده زيات ورکړي.


Copyrighted material from afghanbibles.org.  Not for reprint/publishing purposes.

۱۴ که چېرې يو کس خپل کور څښتن ته وقف کوي، کاهن به
ورته د هغه د ښه والي يا بدوالي له مخې بيه وټاکي او هغه به
اخرنۍ بيه وي. ۱۵ که چېرې هغه کس چې خپل کور يې وقف
کړی دی، وغواړي چې هغه بېرته واخلي، بايد شل فيصده اضافه
بيه ادا کړي او کور به بيا د هغه شي.

۱۶ که چېرې يو کس څښتن ته د خپلې کورنۍ د ځمکې کومه
برخه وقف کوي، د هغې بيه دې د هغه تخم د اندازې له مخې
وټاکل شي چې په هغه ځمکه کې کرل کيږي، يعنې د دوه سوه
کيلوګرامو اوربشو تخم دپاره پنځوس د سپينو زرو سکې. ۱۷ که
چېرې هغه دا ځمکه د بېرته ورکولو د کال څخه وروسته
سمدلاسه وقف کړي، نو ټوله بيه دې ادا کړي. ۱۸ خو که چېرې
هغه کس خپله ځمکه له دې څخه وروسته وقف کړي، کاهن به د
هغې بيه د هغو کلونو د شمېر له مخې حساب کړي چې د بېرته
ورکولو تر راتلونکي کال پورې پاتې وي او کمه بيه به وټاکي. ۱۹
که چېرې هغه کس چې ځمکه يې وقف کړې ده وغواړي چې
هغه بېرته واخلي، بايد د اضافه شلو فيصدو سره بيه ادا کړي او


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ځمکه به بېرته د هغه شي. ۲۰ که چېرې هغه ځمکه په بل چا باندې خرڅوي، نو هغه دې لومړی بېرته په بيه واخلي، پرته له دې د بېرته اخيستلو حق د تل دپاره له لاسه ورکوي. ۲۱ د بېرته ورکولو په راتلونکي کال کې به دا ځمکه سپېڅلې او د څښتن تلپاتې ملکيت شي. هغه به د کاهنانو شي.

۲۲ که چېرې يو کس څښتن ته داسې يو پټی وقف کړي چې اخيستی يې وي او د هغه د کورنۍ د ځمکې برخه نه وي، ۲۳ کاهن به د هغه بيه د هغو کلونو د شمېر له مخې حساب کړي چې د بېرته ورکولو تر راتلونکي کال پورې پاتې وي او هغه کس بايد په هماغه ورځ بيه ادا کړي. پيسې د څښتن کېږي. ۲۴ دا پټی به د بېرته ورکولو په کال کې د هغه اصلي خاوند يا د هغه اولادې ته بېرته ورکړای شي. ۲۵ ټولې بيې بايد د سپېڅلي ځای د اندازې له مخې وټاکل شي.

۲۶ لومړنی زېږېدلی حيوان له پخوا څخه د څښتن دی، نو هېڅوک نه شي کولای چې هغه څښتن ته وقف کړي. که هغه يو


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوسی وي، یو وری یا سېرلی وي، که هغه نر وي یا ښځه، هغه د
څښتن دی. ۲۷ که چېرې هغه یو ناپاک حیوان وي، کېدای شي
چې په اصلي بیه د اضافه شلو فیصدو سره بېرته واخیستل شي.
که چېرې هغه بېرته وانخیستل شي، کېدای شي چې په بل چا
باندې په اصلي بیه خرڅ شي.

۲۸ هېڅوک نه شي کولای چې داسې څه خرڅ کړي یا یې
بېرته واخلي چې پرته له کوم شرط څخه یې څښتن ته وقف کړی
وي، که هغه یو انسان وي، یو حیوان، یا د کورنۍ ځمکه وي. هغه
په تلپاتې توګه د څښتن دي. ۲۹ څوک چې په مرګ محکوم
شوی وي، هغه نه شي کولای چې خپل ژوند بېرته په بیه واخلي،
هغه باید ووژل شي.

۳۰ د ځمکې د ټولو حاصلاتو لسمه برخه که هغه غلې دانې
وي یا مېوه، هغه د څښتن ده. ۳۱ که چېرې یو کس وغواړي چې
د هغې څخه لږ بېرته واخلي، هغه باید د اضافه شلو فیصدو سره
اصلي بیه ادا کړي. ۳۲ کله چې څوک خپلې پادې او رمې


Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمېري، د هغو ښځه هر لسم حيوان د ښښتن دى. ۳۳ هغه کس
نه شي کولاى چې ښېل حيوانات داسې ترتيب کړي چې خراب
حيوانات ورځخه غوره کړي او نه شي کولاى چې هغه بدل کړي.
که چېرې هغه يو حيوان د بل سره بدل کړي، بيا دواړه حيوانات د
ښښتن کيږي او بېرته په بيه نه شي اخيستل کېداى.»

۳۴ دا هغه امرونه دي چې ښښتن موسى ته د سينا په غره
باندې د اسراييليانو دپاره ورکړل.

تاسو پوښتني لرئ؟ 9066 .700 .807 1+
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳